# لیک لړ

I. د کليدي اصطلاحاتو کارول ..... 4
II. لنډيز ..... 5
III. پېژندنه ..... 6
IV. عمومي پاليسي ..... 11
V. قانوني چوکاټ ..... 13
لمړی عنصر: مرتکب، د نړیوالو قوانینو په خلاف، یو یا څو کسان له اساسي حقونو څخه په شدیده توګه محروم کړي ..... 
دويم عنصر: مرتکب دا کس یا کسان د يوې ډلې یا ټولنې سره د تړاو له امله تر هدف لاندې نيولي دي یا ئي بالعکس يوه ډله یا ټولنه د يو کس یا کسانو له امله تر هدف لاندې نيولي ده. ..... Error! Bookmark not defined.
دریيم عنصر: دا ډول په نښه کول د جنسيتي دلايلو پربنسټ وي، په هغه ډول چې د اساسنامې په ۷ ماده، ۳ فقره کې راوړل شوي ..... 17
څلورم عنصر: دا کړنه د اساسنامې په ۷ ماده، ۱ فقره کې د يادو شوو کړنو په تړاو یا د محکمې په صلاحیت کې د کوم بل جرم په تړاو ترسره شوې ده. ..... 19
پنځم عنصر: دا کړنه د ملکي خلکو په ضد د يو پراخ یا سیستماتيک برید د یوې برخې په توګه ترسره شوې ده؛ ۶
شپږم عنصر: مرتکب پوی ؤ چې دا کړنه د ملکي خلکو په ضد د یو پراخ یا سیستماتيک برید یوه برخه ده یا یې داسې اراده درلوده. ..... 20
VI. لومړني تحليلونه ..... 20
VII. پلټنې ..... 22
الف. چمتووالی ..... 22
ب. پلي کول ..... 23
ج. تحليل ..... 23
VIII. عدلي او قضايي تعقيب ..... 24
الف. د تورونو ټاکل ..... 24
ب. د مسؤليت حالتونه ..... 25
ج. شواهد ..... 25
د. حکم کول ..... 28
ه. اعتراضونه ..... 28
IX. د تاوان جبران ..... 28
X. همکاري او بهرنۍ اړیکې ..... 29
XI. اداري پراختيا ..... 30
XII. د دې پالیسی پلي کول ..... 31

## I. د کلیدي اصطلاحاتو کارول

لاندې ذکر شوي ټوکې ، په دې پالیسی کې د کارول شویو مشخصو کلیدي اصطلاحاتو څخه د جزا د نړیوالې محکمې («محکمې») د څارنوال د دفتر («دفتر») پوهاوی او تعبیر منعکس شوی دی.

| کلیدي اصطلاحات | تفسیر |
|---|---|
| **د ټولنې چوکاټ** | د اساسنامې په ۷ (۳) ماده کې، «د ټولنې چوکاټ» د ټولنیزو جوړښتونو او معیارونو هغې ټولګې ته ویل کېږي چې د جنسیت تعریفولو لپاره کارول کېږي. د بېلګې په توګه په دی کې جنسیتي تمایل، جنسیتي هویت او جنسیتي اظهار شاملېږي لکه «ښځه»، «سړی»، «نجلۍ» او «هلک». لکه څنګه چې ټولنیز جوړښتونه او معیارونه د نژاد، قبیلې یا کلتور د پېژندنې او توصیف لپاره کارول کېږي[1]، په ورته توګه ټولنیز جوړښتونه او معیارونه د جنسیت د پېژندنې او توصیف لپاره هم کارول کېږي[2]. |
| **جنسیت** | د روم اساسنامې («اساسنامې») د ۷ (۳) مادې په اساس، «جنسیت»، د ټولنې په چوکاټ کې دننه، د دوه جنسیتونو، نارینه او ښځینه په توګه پېژندل شوي دي. جنسیت هغو جنسي ځانګړنو، د نارینتوب او ښځمنتوب د تعریفولو لپاره کارول کیدونکو ټولنیزو جوړښتونو او معیارونو ته چې رول، چلند، فعالیتونه او ځانګړتیاوې په کې شاملې دي، ویل کېږي[3]. د یو ټولنیز جوړښت په توګه، جنسیت د ټولنو دننه او له یوې ټولنې څخه بلې ته توپیر لرې او د وخت په تېریدو سره بدلیږي. د جنسیت دا تفسیر د اساسنامې د ۲۱ مادې سره مطابقت لري. |
| **جنسیتي تعذیب** | د اساسنامې ۷ (۱) (ح) مادې په اساس، «د جنسیت پر بنسټ تعذیب» د بشر ضد جرم دی په کوم کې چې د جنسیت په تړاو جنایت ترسره کېږي. جنسیتي تعذیب د جنسیتي خصوصیاتو او/یا د جنسیت پېژندلو لپاره د کارېدونکو ټولنیزو جوړښتونو او معیارونو پر بنیاد د اشخاصو په ضد ترسره کېږي. |
| **بینا جنسی** | «بینا جنسی» یوه منل شوی اصطلاح ده چې په جنسیتي ځانګړتیاوو کې د پراخ شمېر طبیعي بدني تنوعاتو د توصیف لپاره کارول کېږي[4]. |
| **LGBTQI+** | لزبین، ګې، دوجنسګرا، ترنسجندر، بیناجنسی او یا کویر پېژندل شوي کسان دي. مثبت علامه(+) په هغو کسانو دلالت کوي چې په یو ډول د (LGBTQI) په ډله کې شامل وي مګر د خپل هویت لپاره نور اصطلاحات کاروي[5]. |

[1] *څارنوالي د انتاګاندا په وړاندې*، د محاکمې د ۶ څانګې پرېکړه، ICC-01/04-02/06, پارګراف ۱۰۱۰؛ *څارنوال د روتاګاندا په وړاندې*، د محاکمې د ۱ څانګې پرېکړه، ICTR-96-3-T, *پاراګراف ۵۶؛ څارنوال د بیلیسیچ په وړاندې*، د محاکمې د څانګې پرېکړه، IT-95-10-T, *پاراګراف* ۷۰.
[2] د جنسي او جنسیت پر بنسټ جرایمو پالیسي، مخ ۳.
[3] د جنسي او جنسیت پر بنسټ جرایمو پالیسي، مخ ۳؛ د روغتیا نړیواله اداره، «جنس او جنسیت»
[4] د ملګرو ملتونو ازاد اوبرابر، فاکټ شیټ: بین الجنسیتي.
[5] سره له دې چې د (LGBTQI+) مخفف کې د اشخاصو پراخه لړۍ شامله ده، خو بیا هم تکمیل نه دی، او نه هم په نړیواله کچه معیاري مخفف دی.

## II. لنډيز

تعذيب له اوږدې مودې راهيسې يوه نړېواله اندېښنه ده چې په نړېوال دوديز قانون کې محکم اساس لري. تعذيب د لندن او توکيو په منشورونو او د دويمې نړيوالې جګړې را وروسته، د نړيوالو نظامي محکمو په قضايی ارائو کې د بشرضد جنايت او نړيوال جرم ګڼل شوی چې د ورته جرمونو شواهد د دوي په ليکلو سوابقو کې ليدل کېږي.

ددی ټولو شواهدو او اوږدې مخينې باوجود د جنسيت پر بنسټ جرايم او د بشرضد د جنسيت پر بنسټ تعذيب جرم، چې په دې پاليسی کې د «جنسيت په بسنټ تعذيب » په توګه ياد شوي، د روم د اساسنامې تر تصويب پورې ( کومه چې د نړيوال جزايی قانون لومړني اساسنامه ده چې دا ډول د جنسيت پر بنسټ تعذيب جرم په رسميت پېژني) په قوانيونو او معاهدو کې نه ؤ راوړل شوي. په اساسنامې کې دا جرايم ځای پرځای کول په حقيقت کې د ټولو هغو برياليو هڅو پايله وه چې د جنسي او د جنسيت پر بنياد د مختلفو زيانونو په پېژندنه کې ترسره شوې وې.

د رسميت پېژندولو ترځنګ لا هم ګڼ شمېر قربانيان عدالت ته لاس رسی نلري. د نړۍ په ګوټ ګوټ کې په شخړو کې ښکېل وسلوال فعالان د جنسيت پر بنسټ جرايمو مرتکب شوي چې د جنسيتی تعذيب ، د بشر ضد جرمونه په کچه رسيدلی ديد ۲۰ ځخه د زياتو کلونو د رسميت پېژندنې باوجود، د څارنوال دفتر تازه په تازه په خپلو قضيو کې د جنسيتي تعذيب د تورونو رامخ ته کول پيل کړي چې دا په خپله د نړيوالو جزايي قوانينو په پراختيا کې ستره تشه څرګندوله.
بشرضد جنايت په توګه د جنسيتي تعذيب قضيو کې د نورو نړيوالو جزايي محکمو او په ملي کچه د عدلي او قضايي بنسټونو لخوا په ځنډ چلند تر غوږو کېږي. په پايله کې، جنسيتي تعذيب اړوند قضيې په ندرت سره په نړيوالو او کرنيو محکمو کې په مناسبه توګه څېړل کېږي. دې چارې، له دوامدار پېښيدلو ترځنګ، په تاريخي سوابقو کې د دې جرم په هکله د شواهدو په نه شتون کې رول لوبولی.

د تعريف له مخې، ددوي د جنسيت پر بنسټ ښځې، سړي، ماشومان، او (LGBTQI+) په ډله کې شامل کسان، د جنسيت پر بنسټ تعذيب جرمونو موخه ګرځي، د جنسيت پر بنسټ جرايم په اصل کې د مرتکبينو له خوا د دې لپاره ترسره کېږي چې فکر کوي دا ډول خلک مهار او يا هم سزا ورکړي کوم چې د دوي په اند د جنسيت له هغو تعريف شوو«منل شوو» معيارونو سرغړونه کوي چې د جنسيت څرګندولو بڼې لکه رول، چال چلند، کړنې اوځانګړنې ګڼل کېږي. ډېر ځله دا معيارونه د ژوندانه په ټولو اړخونو اغېز کوي، تر دی پورې چې د افرادو د تګ راتګ آزادي، د دوی د تکثيري غوراويو بريدونه، چا سره واده وکړي، چېرته کار وکړي، څنګه جامې واغوندي اويا حتی دا چی د بقا اجازه لری، ټاکی .

د تعذيب جرمونو د ټولو ډولونو په څېر، د جنسيت پر بنسټ تعذيب حساب ورکونه هم ژوره پوهه او د جرم په سببي لاملونو کې د تبعيض پېژندنې ته اړتيا لري. که غواړو تبعيض له منځه يوسو او د تاوتريخوالي کړۍ ماته کړو يواځې په دی بايد بسنه ونه شي چې مرتکبين د جرم په صورت کې ګرم وګڼل شي، بلکې د عدالت غوښتنه داده چې په دی سم پوی شوو چې ولی مرتکبينو په دا ډول کړنو لاس پورې کړی.

داچې د قربنانيانو او زيانمونو ټولونو لپاره سختې پايلې لري او جرم ډېری ځل په داسی شرايطو کې ترسره کېږي چې په دوديز ډول سمبالوېږي او د عدلي او قضايی تعقيب لاندې نه راځي، د جنسيت پر بنسټ تعذيب جرمونو تعقيب او څېړل د څارنوال دفتر لپاره د کليدي لومړيتوبونو ځخه ګڼل کېږي. ياد دفتر د جنسيتي تعذيب پالېسي جوړه کړې ترڅو په دی لاره کې خپلې موخې په بشپړ ډول پلې کړي.

نړيوال جزايي قوانين تائيدوي چې د ټولو جنسيتونو او جنسيتي تمايلاتو لرونکي کسان د جنسيتي او جنسيت پر بنسټ تاوتريخوالي موخه ګرځي. حال دا چې جنسيتي تبعيض په تاريخي توګه په نړيوالو قوانينو کې د تاوتريخوالي د زياتېدو عامل په توګه نه دی پېژندل شوی. د بېلګې په توګه، جنسي تاوتريخوالي ته ډېری وختونه د خنثی-جنسيت جرم په توګه کتل شوي، کوم چې په دی ډول جرمونو کې د جنسيتي تبعيض پراخوالی له پامه غورځوي.

د جنسيتي تعذيب په رسميت پېژندنه نه يوازې دا چې د هغې تبعيضي ارادې په څرګندولو کې مرسته کوي کومه چې د دا ډول جرمونو او شخړو سبب ګرځي بلکې ټول هغه قربانيان چې د تبعيض د ګڼو ډولونو له امله زيان ويني هم مشخص کوي. د بېلګې په توګه، (LGBTQI+) اشخاص د ښځو، نجونو، سړيو او هلکانو د تړاو په تور ، او همدا ډول د (LGBTQI+) ډلې پورې د تړاو له امله تر هدف ګرځيدلی شي .

دا رسميت پېژندنه د هغو تاريخي او اوږدمهالو تبعيضونو او له اساسي حقونو څخه د محروميت دوام هم منعکس کوي چې ښځو، نجونو او (LGBTQI+) ډلې په څېر اړوند جنسيتي زيانمنو کسانو تجربه کړي دي.همدا ډول مرسته کوي چې د ښځو ضد، همجنسګرايي نه ويره ، او د ترانسجندر ويره تبعيض په رابرسېره کولو کې مرسته وکړی چې دا تبعيض د تعبيض در نورو ډولونه لکه قومي، نژادي او نورو ډولونو سره په ګډه د جرمونو سبب ګرځي. د جنسيتي تعذيب د جرمونو لپاره حساب ته راکاږل د تلپاتې سولې په راوستلو او د نهادينه شوي جنسيتي تبعيض او تاوتريخوالي په له منځه وړلو کې، مرسته کوی .

د جنسيتي تعذيب اتهامات د نورو اتهاماتو په پرتله مونږ سره مرسته کوي چې د جرايمو يوه بشپړه لړۍ وپېژنو او د مجازاتو څخه د معافيت فرهنګ په وجه د رامنځته شوي تشې په ډکه ولو کې مرسته وکړي. د جنسيتي تعذيب اتهامات ښايي د جنسيت پر بنسټ کړنو هغه پټه لړۍ هم راڅرګنده کړي کومه چې د ډېرو نورو قانوني جرمونو په حاشيه کې ښايي ونه موندل شي او هغه زيانونه را برسېره کړي چې ډېری وختونه پټ پاتې کېږي.

د محکمې ماموريت «مجازاتو څخه معافيت ته د پای ټکی کېښودل» دفتر اړباسي چې د تعذيب د ټولو کړنو ټوليز اغېز په پام کې ونيسي. په ځانګړې توګه، د دې په پېژندلو سره چې د دې ډول کړنو جمعي اغېز ښايي د يوې قضيې د شدت د ارزونې لپاره دفتر ته معلومات وړاندې کړي، په داسې حال کې چې د ناوړه چلند د حد او ارزښت په سمې تشريح سره د قربانيانو او زيانمنو شوو ټولنو ګټې هم خوندي کړي. که شونې وي، د تبعيضي دلايلو پر بنسټ د اساسي حقونو د سرغړونو چې په ټوليزه توګه د يو شديد محروميت سبب ګرځي هم د هغې ناوړه ګټې اخيستنې يوه ښه ټوليزه تاريخي مخينه وړاندې کړي چې پېښې شوې وي.

د څارنوال په غوښتنه، د جنسيتي تعذيب ځانګړي مشاور دا پاليسي تسويد کړې ده. نوموړې دا پاليسي د څارنوال د هغه نوښت چې مدني ټولنو سره يې ښکېلتيا پياوړې کړي، په نظر کې نيولو، د پراخو يو کلنو مشورو په ترڅ کې ده ځانګړو مشاورينو، د دفتر کارکوونکو، بهرنيو فعالانو، د دولتونو استازيو، د ملګرو ملتونو متخصصينو، د ښځو چارو لپاره د ملګرو ملتونو ادارې، نړيوالو نهادونو، مدني ټولنو، زيانمنو شوېو ټولنو، فعالانو، علمي اشخاصو، پوهانو او قربانيانو/ژغورل شويو کسانو په ګډون، چې د ورکشاپونو، هيئتونو، پوهاويو او ناستو له لارې ئې د دې پاليسی له تسويد وړاندې او وروسته برخه اخيستې، چمتو شوې ده. له ۵۰۰ څخه زياتو ادارو، نهادونو، دولتونو، د ملګرو ملتونو متخصصينو، خپلواکو متخصصينو، فعالانو، پوهانو او علمي اشخاصو، چې له ۱۰۰ څخه زياتو هيوادونو او سيمو په استازيتوب ئې، خپلې سپارښتنې وړاندې کړي، چه په حقيقت کې ددې پاليسی د تدوين ارزښت څرګندوي.

د جنسيتي تعذيب پروړاندې حسابدهی اوددی پديدې مخنيوی، د ټولو اړوندو فعالانو ګډ کار او ژمنتيا ته اړتيا لري. څارنوال د دې پاليسی د تصويب سره، ژمنه کوي چې په پلي کولو کې به ئې هر ډول هڅه کوي.

## III. پېژندګلوي

1. تعذيب له اوږدې مودې راهيسې يوه نړيواله اندېښنه ده چې په نړيوال دوديز قانون کې محکم اساس لري. تعذيب د لندن او توکيو په منشورونو او د دويمې نړيوالې جګړې را وروسته، د نړيوالو نظامي محکمو په قضايي ارائو کې د بشرضد جنايت او نړيوال جرم ګڼل شوی چې د ورته جرمونو شواهد د دوي په ليکلو سوابقو کې ليدل کېږي[6].

[6] لکه د نورمبرګ د محاکمې اجراآت ۴ جلد، ۸ جنوري ۱۹۴۶ په مخ ۵۰۶ کې؛ ۶ جلد، ۲۹ جنوري ۱۹۴۶ په مخ ۳۰۹ کې؛ او ۱۲ جلد، ۲۵ اپريل ۱۹۴۶ په مخ ۱۹۹ کې. د ې تر څنګ د بشر حقونو نړيوال قانون او د کډوالو قانون په تېرو دېرش کلونو کې د جنسيتي او جنسيت اړوند ځورونې په رسميت پېژندلې دي. اوسترويلډ، و، «جنسيت، ځورونه، او د جزا نړيواله محکمه؛ د بشر پر ضد د جنسيت پر بنسټ ځورونې سره کډوالو د قانون تړاو» د *پرتليز او نړيوال قانون لپاره د ډيوک ژورنال*، جلد ۱۷ (۲۰۰۶)، ۴۹، مخ ۵۰-۵۱.

2. د روم اساسنامه د جزا د نړیوالې محکمې پورې تړلې لومړنی جزایي قانون دی چې تعذیب د جنسیت پر بنسټ («جنسیتي تعذیب ») د بشرضد جرم په توګه پېژني[7]. د جنسیت پر بنسټ تعذیب رسمیت پېژندنه په اساسنامه کې د جنسي او جنسیت پر بنسټ تعذیب زیانونو د بېلابېلو ډولونو پېژندنه یوه عمده برخه تشکیلوي.

3. جنسي او د جنسیت پر بنسټ جرایم په اساسنامه کې تر ټولو سختو جرایمو له ډلې څخه ګڼل شوي[8]، او د دې ډول جرایمو پلټل او عدلي تعقیب د څارنوال د دفتر لپاره کلیدي لومړیتوب دی. دفتر له لومړني برسي او پلټنې څخه نیولې تر محاکمې، د حکم صادرېدو ، استیناف غوښتنې او خسارې جبران پورې، په ټولو پړاونو کې، د جنسیتي تعذیب په شمول، دې ډول جرایمو ځانګړې پاملرنې ته ژمن دی[9].

4. د اساسنامې د ۷ (۲) (ز) مادې له مخې، «د جنسیت پر بنسټ تعذیب » د یوې ډلې یا ټولنې د هویت پر اساس د نړیوالو قوانینو په خلاف د اساسي حقونو عمدي او شدید محرومیت ته ویل کېږي. جنسیتي تعذیب د جنسي ځانګړتیاو او/یا د جنسیت د تعریف لپاره د کارېدونکو ټولنیزو جوړښتونو او معیارونو پر بنسټ ترسره کېږي[10].

5. ټول هغه اشخاص چې د محکمې تر صلاحیت لاندې جرایمو قربانیان[11] دي بنایي د اساسنامې د ۷ (۱) (ز) مادې له مخې د تعذیب پر اساس زیانمنونکي وي، چې جنسیتي تعذیب هم په کې شامله وي. د جنسیتي تعذیب پر اساس په نښه شوو ډلو کې ښځې، نجونې، سړي، هلکان او (LGBTQI+) اشخاص، او د دې ډلو فرعي ټولګې هم شامل دي[12].

6. نړیوال جزایي قوانین تائیدوي چې د ټولو جنسیتونو او جنسیتي تمایلاتو لرونکي کسان د جنسیتي او جنسیت پر بنسټ تاوتریخوالي موخه ګرځېدلی شی. دا په داسی حال کې ده چې جنسیتي تبعیض په تاریخي توګه په نړیوالو قوانینو کې د تاوتریخوالي د زیاتېدو عامل په توګه نه دی پېژندل شوی[13]. د بېلګې په توګه، جنسي تاوتریخوالي ته ډېری وختونه د خنثی-جنسیت جرم په توګه کتل شوي، کوم چې د جنسیت اړخ یې له پامه غورځوي[14].

---

7 د اساسنامې ۷ (۱) (ح) ماده.

8 لکه د جنسي او جنسیت پر بنسټ جرایمو پالیسي، پاراګراف ۴۵؛ د ملګرو ملتونو د امنیت شورا پریکړه لیک ۲۴۶۷ (۲۰۱۹) پاراګراف ۱۵.

9 د جنسي او جنسیت پر بنسټ جرایمو پالیسي، پاراګراف ۴؛ د قضیو ټاکلو او لومړیتوب پالیسي، پاراګراف ۴۶.

10 د جنسي او جنسیت پر بنسټ جرایمو پالیسي وګورئ

11 دا پالیسي د «قرباني» اصطلاح کاروي لکه څنګه چې په ۸۵ (الف) اصل کې تعریف شوې ده او تصدیقوي چې هغه اشخاص چې جرایم یا زیان یې تجربه کړی وي د «قرباني» یا «ژغورل شوي» په اصطلاح سره مشخص کیدلی شي.

12 سره له دې چې (LGBTQI+) اشخاص د ښځو، نجونو، سړیو او هلکانو په ډلو پورې تړاو لرلی شي، دوی د (LGBTQI+) ډلو پورې د تړاو له امله تر هدف لاندې هم نیول کیدلی شي.

13 د آی آی آی ایم د جنسیت ستراتیژي او د تطبیق پلان، لندېنه (۳۰ سپتمبر ۲۰۲۲)، مخ ۵ او ۹ (د آی آی آی ایم د جنسیت ستراتیژي). «دا حقیقت چې جنسي تاوتریخوالی له ډېره وخته راهیسي د وسلوالې شخړې حتمي جانبي عوارض ګڼل کېږي، د دې سبب ګرځېدلی دی چې د جنسي تاوتریخوالي جرایم نالیدلي وګڼل شي او له همدې امله مرتکبینو ته فرصت ورکوي چې له معافیت سره خپل عمل اجراء کړي.» د آی آی آی ایم د جنسیت ستراتیژي، مخ ۴.

14 د آی آی آی ایم د جنسیت ستراتیژي، مخ ۹.

7. دفتر دا ډاډ ترلاسه کوي چې د جنسيتي تعذيب  د احتمالي قضيو په ارزولو کې هيڅ ډول تعصب  نه کېږي، د دې په تائيد سره چې هر شخص د جنسيت پر بنسټ موخه ګرځېدلی شي، او دا چې په دې اړه به له وړاندې داسې هيڅ تعصبي  فرضيې نه وي چې کوم جرايم د جنسيتي تعذيب سبب ګرځي.

8. دفتر په اساسنامه کې ماشومانو ته د ژمنتيا پر بنياد او دا چې ماشومان د نړيوالو قوانينو په اډانه کې له ځانګړي خونديتوب څخه برخمن دي، د ماشومانو په وړاندې ترسره کيدونکي يا د هغوی اغېزمنوونکي جنسيتي تعذيب اړوند، کړني يا جرايم په خاص ډول جدي نيسي[15]. د ځوروني کړني چې ماشومان ئې د عمر يا زوکړې پر بنسټ موخه ګرځي، اړوند دلائلو په اساس، د جنسيت په شمول، د ماشومانو د پاليسی سره سم، د عدلی تعقيب لاندې نيول کېږي[16]. دفتر به د دې ډول جرايمو د شدت او اغېز ارزوني پر مهال د جنسيتي تعذی  د هر عمر لرونکو ماشومانو – له نوي زېږون څخه تر تنکی ځوانی[17] – قربانيانو ته ځانګړې پاملرنه کوي. د دې ترڅنګ، کله چې له هغو ماشومانو سره ښکېلېږي چې د جنسيتي تعذيب  قربانيان وي، دفتر به خپله د تروما-مطلع، ماشوم-حساسه او ماشوم-قابله تګلاره کاروي[18].

9. که څه هم جنسيتي تعذيب  د يوې محکمې په صلاحيت کې دننه د جرايمو په تړاو د ټولو اشخاصو په وړاندې ترسره کيدلی شي، دا ډول جرايم د هغو تاريخي او اوږدمهالو جوړښتي تبعيضونو او د اساسي حقونو څخه د محروميت دوام منعکسوي چې ښځې، نجونې او (LGBTQI+) اشخاص يې تجربه کوي[19].

10. د مرتکبينو تبعيضي اراده ښايي موجوده اجتماعی جوړښتونه يا معيارونه چې د جنسيت د تعريفولو لپاره کارول کېږي وکاروی او يا هم يی په تشديده شکل استفاده وکړی. او يا هم آن دا چې نوی معيارونه ايجاد کړی.. د مرتکبينو تبعيضي اراده ښايي د تعذيب  له نورو بنسټونو  سره تداخل ولري چې په اساسنامه کې منع شوي دي، او  همدا ډول هغه موجود ټولنيز جوړښتونه يا معيارونه چې، د بېلګې په توګه، د قبيلې، نژاد يا کلتور پر بنسټ، په ښه شوو ډلو د تعريفولو لپاره کارول کېږي منعکس کړي، يا نوي قوانين وضع کړي[20].

---

15 د ماشومانو پاليسي، پاراګراف ۵۷.

16 د ماشومانو پاليسي، پاراګراف ۳۷ او ۵۱

17 تنکی ځواني د ماشومتوب او لويوالي ترمنځ د ژوند يو پړاو دی، چې له ۱۰ تر ۱۹ کلونو پورې وي. د روغتيا نړيواله اداره، د تنکيو ځوانانو روغتيا

18 د ماشومانو پاليسي، پاراګراف ۹، ۲۲، ۲۳، ۲۸، ۳۳، ۳۴، ۶۳، ۷۰، ۷۱، ۱۰۶، ۱۰۹، ۱۱۶ او ۱۲۰.

19 «د جنسيت اصطلاح»... عبارت ده له: پر هغو لارو چارو پوهيدل چې په کې ټولنيز جوړ شوي جنسيتي نقشونه د ښځو او نجونو په وړاندې د قدرت د غيرتعادل سبب ګرځيدلی شي؛ پر دې پوهيدلو سره چې د جنسيت پر بنسټ تبعيض د متنوعو جنسي تمايل او جنسي هويت لرونکو خلکو په وړاندې د زيانونو سبب هم ګرځيدلی شي او د دوی تجربې ناليدل شوې يا کمې ښکاره کيدونکې کولی شي؛ او د دې ډاډ ورکول چې د جنسيتي جوړښتونو ځوابول چې سړيو او هلکانو ته زيان رسوي د هغو هلوځلو سره په ټکر کې نه دي چې هغه سيستماتيکه نابرابري او تبعيض ځواب کړي چې ښځې او نجونې ورسره په ټولو ټولنو کې مخ دي. د آی آی ایم د جنسيت ستراتيژي، مخ ۶ «د شخړې اړوند تاوتريخوالی چې د جنسيتي تمايل او جنسيتي هويت پر بنسټ وي په خپل ماهيت کې جوړښتي کيدلی شي، او ځينې کړنې د جرمي کيدلو او/يا محروميتي ټولنيزو اصولو په پايله کې له پراخو ټولنيزو تبعيضي دودونو سره تړلې وي، چې ټولې يې په ستراتيژيکه او تکتيکي توګه د شخړې د فعالانو له خوا کارول کېږي». د ملګرو ملتونو عمومي اسمبلي، *د جنسي تمايل او جنسيتي هويت پر بنسټ تاوتريخوالي او تبعيض په وړاندې خونديتوب*، A/75/235 (جولای ۲۷، ۲۰۲۲)، پاراګراف ۳۷

20 څارنوالي د انتاګاندا په وړاندې ، د محاکمې د ۴ څانګې پرېکړه، ICC-01/04-02/06، *پاراګراف*. ۱۰۱۰ (انتاګاندا پرېکړه)؛ څارنوال د روتاګاندا په وړاندې، د محاکمې د ۱ څانګې پرېکړه، ICTR-96-3-T، پاراګراف ۵۶؛ څارنوال د ييليسيچ په وړاندې، د محاکمې د څانګې پرېکړه، IT-95-10-T، پاراګراف ۷۰

11. په افغانستان کې د شخړې د لورو[21]؛ په کولمبیا کې د شخړې د لورو[22]؛ په عراق کې د داعش[23]؛ په لیبیا کې د شخړې د لورو[24]؛ په میانمار کې د وسلوالو فعالانو[25]؛ په نایجېریا کې د شخړې د لورو[26]؛ په سوریه کې د وسلوالو فعالانو[27]؛ او په یمن کې د شخړې د لورو[28] له خوا د اعمالو اوسنۍ بېلګې چې بنایي د جنسیتي تعذیب په سرحد ورسیږي ولري هغه جرایم په کې شامل دي چې ښځې، نجونې، سړي، هلکان او (LGBTQI+) اشخاص ئې موخه ګرځېدلي شي

12. دفتر د ټولو تعهداتو ترسره کول د جنسیت پر اساس ولاړې تګلارې په رڼا کې ترسره کوي. دفتر ژمن دی چې اساسنامه له نړیوالو قوانینو، په ځانګړې توګه د بشر حقونو قانون، د اساسنامې د ۲۱ (۱) (ب)-(ج) او (۳) مادو، سره سم پلې او تفسیر کړي. له همدې امله به دا اصول په هر وخت کې د جنسیت پورې تړلو د دفتر د مکلفیتونو په اجراء کولو کې رهنمایی کوي.

13. د جنسیتي تعذیب د شدت او د هغې د پلټنې او عدلي تعقیب په تائیدولو سره، د څارنوال دفتر د لومړي ځل لپاره دا جرم د *څارنوال الحسن* (*Prosecutor v. Al Hassan*) *په وړاندې*[29] قضیه کې وارد کړ. د محکمې په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره ، د ۲۰۱۹ کال د سپتمبر په ۳۰مه، د جزا د نړیوالې محکمې قبل المحاکمې څانګې د جنسیت پر اساس د تعذیب تورونه تائید کړل.

14. په ۲۰۲۲ کال کې، څارنوال د جندر او ماشومانو د ځانګې ("GCU") کاري صلاحیتونه او ظرفیت لوړ کړ، ترڅو داسې موضوعاتو کې د دفتر لومړیتوب منعکس کړي. د جندر او ماشومانو څانګه له ټولو متحدو ټیمونو او نورو ځانګړو څانګو او شعبو سره، د جنسي او جنسیت پر بنسټ جرایمو او د ماشومانو یا نورو زیانمنونکو اشخاصو په وړاندې یا د هغوی اغېزمنوونکو جرایمو باندې کارکولو کې، او د دوی د کارونو په ټولو پړاوونو (لومړنیو برسیو، پلټنو، محاکمې، پرېکړې، استیناف غوښتنې او د خسارې جبران) کې، مرسته کوي، چې د جنسیتي تعذیب اړوند موضوعات هم په کې شامل دي.

15. دفتر یوازې هغه وخت صلاحیت لري چې جنسیتي تعذیب اړوند قضیو ته رسیدګي وکړي چې په ۷(۱) ماده کې د هر ډول کړنې په تړاو ترسره شوې وي یا د محکمې په صلاحیت کې دننه[30] د هر بل جرم په تړاو وي، او یا کله چې د بشر ضد جرایمو قرینوي عناصر په کې پوره شوي وي.

---

[21] «که اسمان ته هم وخېژې، پیدا کوو دې:» د طالبانو له واک ته رسیدلو وروسته په افغانستان کې همجنسبازان، اوټرایټ اکشن انټرنیشنل او د بشر حقونو څار (۲۵ جنوري ۲۰۲۲)، مخ ۱۲-۱۴ او ۲۰؛ په افغانستان کې د بشر حقونه: د ۲۰۲۱ د اګست ۱۵ څخه د ۲۰۲۲ د جون تر ۱۵ پورې، یوناما (جولای ۲۰۲۲)، مخ ۱۷.

[22] Caso 05, Auto 066 de 2021, Jurisdicción Especial para la Paz, Sada de Reconocimiento de verdad, de responsabilidad y de determinación de los hechos y conductas, 14 ، ۱۴ اپریل ۲۰۲۱، پاراګراف ۲.۲ او ۲.۳

[23] په عراق کې د داعش او اړوندو ډلو د ترسره کړو جرایمو په رڼا کې د بشر حقونو د وضعیت په اړه د (OHCHR) راپور، A/HRC/28/18 (۲۷ مارچ ۲۰۱۵)، پاراګراف ۳۵-۴۳.

[24] په لیبیا کې د خپلواک حقیقت موندونکي ماموریت راپور، A/HRC/48/83 , (۲۹ نومبر ۲۰۲۱)، پاراګراف ۴۶ او ۵۲

[25] د روم د اساسنامې د ۱۵ مادې پر بنسټ پرېکړه چې د بنګلدېش جمهوریت/ د میانمار جمهوري اتحاد کې یې د وضعیت د پلټنې په اړه اجازه ورکړه، ICC-01/19-27,، پاراګراف ۸۶.

[26] د څارنوال بیانیه، فاتو بنسودا، په نایجېریا کې د وضعیت د لومړني تحلیل د پایلې په اړه، ۱۱ ډسمبر ۲۰۲۰.

[27] د سوریې عربي جمهوریت کې د پلټنې د نړیوال خپلواک کمېسیون راپور، A/HRC/46/54 (۲۱ جنوري ۲۰۲۱)، پاراګراف ۴۹-۵۳.

[28] د ۲۰۱۴ کال راهیسې د سرغړونو او ناوړه ګټو اخیستنو په شمول، په یمن کې د بشر حقونو وضعیت، A/HRC/45/CRP.7 (۲۹ سپتمبر ۲۰۲۰)، پاراګراف ۱۹۶-۲۳۴.

[29] *څارنوال د الحسن په وړاندې*، د تورونو تائید، ICC-01/12-01/18 («*د الحسن* د تورونو تائید»). د الحسن قضیه لومړنی قضیه ده چې د جنسیتي تعذیب تورونه په کې ثبت شوي دي. د جنسیت پر بنسټ تعذیب تورونه (د نژادي، سیاسي او/یا مذهبي اساس لرونکو تورونو سره) له هغه وروسته د (CAR) او دارفور په حالتونو کې هم وړاندې شوي دي. *څارنوال د الرحمان په وړاندې*، د تائید پرېکړه *وګورئ*، ICC-02/05-01/20 («د الرحمان د تائید پرېکړه»)؛ *همدا ډول څارنوال د سید په وړاندې*، د تائید پرېکړه، *وګورئ*، ICC-01/14-01/21 («د سید د تائید پرېکړه»). د الحسن له قضیې وړاندې، څارنوال هڅه کړې وه چې د جنسیتي تعذیب تورونه د مباروشیمانا په قضیه کې رامخ ته کړي، خو په نهایت کې یاد تورونه د تورونو په سند کې شامل نه کړای شول. *څارنوال د مباروشیمانا*، قبل المحاکمې څانګه ۱، ICC-01/04-01/10.

[30] د اساسنامې ۷ (۱) (ح) ماده.

16. د دې پاليسي موخې دا دي چې:

- د څارنوال دفتر په تعهداتو تأکيد وشي چې د اساسنامې د احکامو مطابق د جنسي او جنسيت پر بنسټ جرايمو ته ځانګړې پاملرنه ولري؛
- د دفتر د کارونو په ټولو پړاوونو کې، د اساسنامې د تطبيق او تفسير، د جرايمو د عناصرو («عناصرو») او د طرزالعملونو قواعدو او مدارکو(«قواعدو») په برخو کې کارکوونکو ته وضاحت او لارښوونې وړاندې کړي چې له لومړنيو برسيو نيولې د حکم صادرېدو، استيناف غوښتنې او د خسارې جبران پورې د جنسيتي تعذيب د اغېزناکې پلټنې او عدلي تعقيب ډاډ ترلاسه شي؛
- د دفتر دننه او په پراخه کچه د جنسيتي تعذيب پروړاندې د پلټنې، تحليل او تعقيب غوره دود او کلتور، ودې ته زمينه برابر کړي؛
- د دې پاليسي په اغېزمنه توګه تطبيق له لارې، د جنسيتي تعذيب اړوند د نړيوال عدلي او قضايي طرزالعمل د پراختيا په روانه پورسه کې اسانتيا رامنځته کړي؛
- د شته ملي پروسو د پړاونو د حمايي ترڅنګ د جنسيتي تعذيب جرمونو د تعقيب اهميت اړوند د پوهاوي سطحه لوړول

17. د جنسيتي تعذيب پروړاندې حسابدهي اوددې پديدې مخنيوی، د ټولو اړوندو فعالانو ګډ کار او ژمنتيا ته اړتيا لري. څارنوال د دې پاليسی د تصويب سره، ژمنه کوي چې په پلې کولو کې به ئې هر ډول هڅه کوي.

18. دا سند د جنسيتي تعذيب جرمونو په تړاو د دفتر پاليسي روښانه کوي. چې پر اساسنامې، عناصرو، قواعدو، د محکمې مقرراتو، د دفتر مقرراتو او د دفتر په عدلي او قضايي ستراتيژيو بنا دی. دا سند د دفتر د پاليسی د نورو ټولو سندونو او د جنيستي تحليل له لارښوونو سره سمون لري. په کوم ځای کې چې مناسبه وي، دا سند پر نافذيدونکو تړونونو او د اساسنامې د ۲۱ (۱) (ب)-(ج) او (۳) مادو مطابق د نړيوالو قوانينو پر اصولو او قواعدو بنا دی. دا سند د دفتر له تجربو، د شته غوره دودونو او اخيستل شوو درسونو، د اړوند عدلي او قضايي طرزالعمل، د جزا د نړيوالې محکمې او نورو محکمو څخه الهام اخلي. دا پاليسي د دفتر پر ستراتيژيکو تګلارو تمرکز کوي او د بياکتنې وړ ده. دا پاليسي قانوني حقونه نه راپورته کوي.

19. دفتر د ادعا شوو جرمونو لپاره په خپله تګلاره کې د روڼتيا، وضاحت او وړاندوينې د وړتيا د لوړاوي په موخه خپلې پاليسی خپروي. د دې پاليسی خپرول، نشرول او تطبيقول کولی شي فعالانو ترمنځ د جنسيتي تعذيب جرمونو رسيدګی په برخه کې همکاري او همغږي لوړه کړي چې له دی جملې څخه دولتونه، د ملګرو ملتونو نهادونه او متخصصين، د انتقالي عدالت ميکانيزمونه، نړيوال نهادونه، د مدني ټولنو اړوند اداري، پوهان، فعالان او قربانيان/ ژغورل شوي کسان يادولی شو. هيله کيږي چې دا به د دې جرايمو په تړاو د محکمې د کارونو له لارې، د جنسيتي تعذيب اړوند همکاری په ترويج، د حساب ورکولو او د اساسنامې د مخنيوي کوونکي اغېز په لوړاوي کې مرسته وکړي.

20. دفتر له بهرنيو همکارانو، د دې ساحې له متخصصينو او مدني ټولنې سره د جنسيتي تعذيب ته د رسيدګی په برخه کې د همکاری پر اهميت ټينګار کوي. د څارنوال په غوښتنه، د جنسيتي تعذيب ځانګړي مشاور دا پاليسي تسويد کړی ده. دفتر حياتي وګڼله چې د دې پاليسی لپاره د مدني ټولنې، زيانمنو شوو ټولنو او نورو فعالانو، په ځانګړې توګه هغو چې د جنسيت پر بنسټ زيانونو ته د رسيدګی تجربه لري يا د دې ډول جرايمو قرباني شوي وي، غږونه او نظرونه واوريدل شي.

د څارنوال د هغه نوښت چې مدني ټولنو سره یې ښکېلتیا پیاوړې کړې [31] په نظر کې نیولو سره، دا پالیسي د پراخو یو کلنو مشورو په ترڅ کې دځانګړو مشاورینو، د دفتر کارکوونکو، بهرنیو فعالانو، د دولتونو استازیو، د ملګرو ملتونو متخصصینو، د ښځو چارو لپاره د ملګرو ملتونو اداري، نړیوالو نهادونو، مدني ټولنو، زیانمنو شویو ټولنو، فعالانو، علمي اشخاصو، پوهانو او قربانیانو/ژغورل شویو کسانو په ګډون، چې د ورکشاپونو، هیئتونو، پوهاویو او ناستو له لارې ئې د دي پالیسی له تسوید وړاندې او وروسته برخه اخیستې، چمتو شوې ده. له ۵۰۰ څخه زیاتو ادارو، نهادونو، دولتونو، د ملګرو ملتونو متخصصینو، خپلواکو متخصصینو، فعالانو، پوهانو او علمي اشخاصو، چې له ۱۰۰ څخه زیاتو هیوادونو او سیمو په استازیتوب ئي، خپلې سپارښتني وړاندې کړي،چه په حقیقت کې ددې پالیسی د تدوین ارزښت څرګندوي.

## IV. عمومي پالیسي

21. دفتر د جنسیت پر بنسټ بشرضد د تعذیب جرم ته ځانګړې پاملرنه کوي او هڅه کوي چې د خپلومکلفیتونو په محدوده کې یې وپلټي، تحلیل کړي او ویې څاري.

22. د اساسنامې د ۷ (۲) (ز) مادې له مخې، «د جنسیت پر بنسټ تعذیب » د یوې ډلې یا ټولنې د هویت پر اساس د نړیوالو قوانینو په خلاف د اساسي حقونو عمدي او شدید محرومیت په توګه تعریف شوی. د ۷(۱)(ح) مطابق، د جنسیتي تعذیب کړنه باید په ۷(۱) ماده کې د یادې شوې کړنې سره په تړاو یا د محکمې د صلاحیت دننه د هر بل جرم: تولوژنې، د بشرضد نورو جرمونو، جنګي جرمونو یا د تهاجم اړوند جرمونو، په تړاو ترسره شوې وي.

23. د جنسیتي تعذیب په اساسي کړنو یا جرمونو کې د جنسي تاوتریخوالي ډولونه یا نور بدني تاوتریخوالی یا بدني اړیکي شاملي دی، مګر تل په ظاهر کې نه ښکاري.همدارنګه اروایي ناوړه ګټه اخیستنه هم په دې کې شامله ده[32]. دا کیدای شي اشخاصو ته له بدني ټپونو پرته نورې بنې هم ولري، لکه کلتوري ویجاړې یا مصادرې یا پر ښوونځیو یا روغتونونو بریدونه[33].

24. جنسیتي تعذیب په شدیده توګه یو کس یا کسان نړیوالو قوانینو خلاف د تبعیض څخه د مصؤنیت حق چې د ټولو اساسي حقونو د محرومیت سره تړاو لری، محرومومي. د بیلګې په توګه، یو کس د ژوند له حق؛ د شکنجې او بل هر ډول غیر انساني او د سپکاوی ډک چلند څخه د مصؤنیت حق؛ له غلامی یا د غلامی د سوداګری او د پخوانیو جزایي قوانینو د تطبیق څخه د مصوؤنیت حق؛ د غونډو جوړولو، نظر ورکولو، بیان، تګ راتګ او د مذهب آزادی له حق څخه چې له دین څخه د آزادئ حق هم په کې شامل دی؛ د مساوات، عزت، بدني تمامیت، کورنی، محرمیت، امنیت، ښووني او روزني، ګومارني، شتمنی، سیاسي یا کلتوري ګډون له حقونو، او عدالت یا روغتیا پاملرني ته د لاسرسي له حق څخه محروم کړي. د بشري حقونو سرغړوني پخپله یا په جمعي توګه په پام کې ونیول شي، د اساسي حقونو څخه محرومیت تشکیلوي. د اساسي حقونو څخه محرومیت کیدای شي چې د تاوتریخوالي یا ویجاړوني په موخه ترسره شي ، یا کیدای شي د داسي مقرراتو په وضع کولو سره رامنځ ته شي چې د افرادو د ژوندانه هر اړخ اغېزمن کړي. په دې کې د دوی تکثیري او د کورنی غوراوي، له چا سره واده کولی شي، آیا ښوونځي ته تللی شي که نه، چیرته کار کولی شي، څنګه جامي اغوستلی شي او یا آن دا چې د بقا حق لری ، شامل وي.

[31] د جزا د نړیوالي محکمي څارنوال کریم ا.ا. خان نوی نوښت اعلانوي چې له مدني ټولني سره ښکېلتیا پیاوړی کړي، ۱۳ می ۲۰۲۲
[32] *څارنوال د کوبچکا په وړاندې*, IT-98-30/1-A, د استیناف پریکړه، پاراګراف ۳۲۵ (موندنه چې د بوسنیایي مسلمانانو په وړاندې د ځوروني، سپکاوي او رواني ناوړه ګټه اخیستنې کړنې د بشریت په ضد جرایمو اساسي کړنې تشکیلوي).
[33] د جنسي او جنسیت پر بنسټ جرایمو پالیسي؛ د کلتوري میراث پالیسي *وګورئ.*

25. جنسيتي تعذيب ښايي د مرتکبينو له خوا د دې لپاره وکارول شي چې د داسې وضع شوو تبعيضي مقرراتو له لارې تولنيز جوړښتونه او معيارونه نافذ کړي چې له اساسي حقونو څخه سرغړونه بلل کېږي. د بېلګې په توګه، د داعش په ایډیالوژۍ کې لیدل کېږي چې «د جنسیت او جنسیتي اظهار پر بنسټ د اشخاصو په وړاندې پر یو سیستماتیک تبعیض بنا او په دې کې د هغو کسانو شکنجه او وژل شامل و چې د جنسیتي نقشونو اړوند ئې د دوي له درک او خیال سره مطابقت نه درلود.»[34]

26. د دې تشخيص کول چې يو ګڼ شمېر د اساسي حقونو محروميتونه کېدای شي د جنسيتي تعذيب درجې ته ورسېږي، دفتر به د جنسيتي تعذيب د پلټلو پر مهال، هم د انفرادي کړنو يا جرمونو او هم د جمعي اغېز له نظره د تعذيب کړنو بېلګې تحليلوي.

27. دفتر تصديقوي چې په نړيوالو قوانينو کې منع شوې د بشر حقونو سرغړوني په کلتوري توګه نه شي ټاکل کېدلی. د اساسي حقونو سرغړوني ناليدلي، ګوښه شوې يا د کلتور پر بنسټ نه شي توجيه کېدلی[35].

28. د کلتوري ميراث ځيني ډولونه يا اړخونه کېدای شي په ځانګړې توګه په نښه شي ځکه چې دا د جنسيت پر بنسټ د یوې په نښه شوې ډلې د غړو لپاره ځانګړې ارزښت لري.[36] د بېلګې په توګه، د يو زيارت رنګول چې د ښځو لپاره د راغونډېدلو د يو ارزښتناک ځای په توګه کار کوي، يا د يو ارشيف مرکز سوځول چې د (LGBTQI+) اشخاصو لپاره مهم وي[37]، کېدای شي د جنسيتي او کلتوري تعيب کړنه وګڼل شي. د اساسنامې د ۵۴ (۱)(ب) مادې سره سم او په هغه ډول چې د جنسي او جنسيت پر بنسټ جرمونو او کلتوري ميراث پاليسيو کې منعکسه شوې ده، دفتر به د کلتوري او د تعيب له نورو دلايلو او د تداخل په پوهاوي سره، د جنسيتي تعذيب د پلټلو لپاره یوه ټوليزه تګلاره خپلوي[38].

[34] د ملګرو ملتونو د بشر حقونو شورا، د ماوراءعدالتي، ځای پر ځای يا خپلسرو اعدامونو په اړه د ځانګړې راپور ورکوونکي راپور، د خپلسرو وژنو لپاره د جنسيت حساسه تګلاره، A/HRC/35/23 (۶ جون ۲۰۱۷) پاراګراف ۴۷.

[35] د کلتوري ميراث پاليسي، ۸ نقل، د کلتوري حقونو په ساحه کې د ځانګړي راپور ورکوونکي راپور، ۳ فبروري ۲۰۱۶، د ملګرو ملتونو سند، A/HRC/31/59، پاراګراف. ۲۷: «په دې وخت کې ښايي مهمه وي چې وويل شي چې کلتوري حقونه کوم نه دي. دا له کلتوري اړخپالنې سره مساوي نه دي. دا د نورو بشري حقونو د سرغړونو لپاره بهانه کېدلی نه شي. دا تاوتريخوالی يا تبعيض نه توجيه کوي. دا پر نورو باندې د هويتونو يا عرفونو د تحميلولو يا د نړيوالو قوانينو خلاف د محروميتونو د وضع کولو جواز نه شي کېدلی. دا په روښانه توګه د نړيوالو بشري حقونو په چوکاټ کې رانغاړل شوي دي.» ۲۵ پاراګراف وګورئ: «دفتر په خپلې ټولې شتمنۍ او تنوع سره کلتور ته درناوی لري او ورسره حساس دی، په دې شرط چې دا ډول کلتوري عرفونه له دې اساسنامې او د نړيوالو قوانينو او په نړيواله کچه منل شوو اصولو او معيارونو سره په ټکر کې نه وي.» همدا ډول وګورئ، د ملګرو ملتونو د بشر حقونو کمېټې ويلي دي چې د ملکي او سياسي حقونو د نړيوال کنوانسيون غړي دولتونه بايد ډاډ ورکړي چې دوديز، تاريخي، مذهبي، يا کلتوري سلوک بايد د دې لپاره ونه کارول شي چې د قانون په وړاندې د مساوات او د ملکي او سياسي حقونو د نړيوال کنوانسيون د ۵(۲) او ۲۶ مادې لاندې د ټولو حقونو د مساوي استفادې په وړاندې د حقونو سرغړونه توجيه کړي. د ښځو په وړاندې د تاوتريخوالي له منځه وړلو اعلاميې، د ۴مادې، ۱ فقره وايي «بايد هيڅ رواج، دود يا مذهبي فکر د دې سبب نه شي چې د ښځو په وړاندې د تاوتريخوالي له منځه وړلو اړوند مکلفيت مخه ونيسي.»

[36] د کلتوري ميراث پاليسي، ۲۹ فقره (د دې په يادولو سره چې دا ډول تحليل د ښځو په وړاندې د هر ډول تبعيض له منځه وړلو لپاره د ملګرو ملتونو له کنوانسيون سره مطابقت لري.)

[37] وګورئ، لکه کلاديا شاپمين، «په نازي جرمني کې د همجنسبازانو ښځو مؤقف» په «پټ هالوکاسټ؟ په جرمني کې د نارينه او ښځينه همجنسبازانو ځورونه ۱۹۳۳-۴۵» (ګونتر ګراود، ۱۹۹۵)، مخ ۹؛ هيکي باور، «سوځيدونکي جنسي شيان: کتابونه، هوموفوبيا او د نازيانو له خوا په برلين کې د جنسي علومو د انستيټيوټ ورانول» په، «له منځنيو پېړيو څخه تر معاصر وخته پورې د کتابونو له منځه وړل»، (بسينګستوک: پالګريو مک ميلن، ۲۰۱۴)، مخ ۱۷-۳۳. وګورئ، ويليم ج. پين، د مرګ قطعي نرښځيان د اتباعو په توګه سپکوي: کولمبيايي شبه نظاميان څه وايي، جنسيت، ځای او کلتور، (۲۰۱۶)، مخ ۳۳۸ (د يو وسلوال فعال په اړه بحث چې په کولمبيا کې کې د نارينه همجنسبازانو د يوې ودانۍ بمباري کولو لپاره غوښتنه کوي).

[38] د جنسي او جنسيت پر بنسټ جرايمو پاليسي، پاراګراف ۲۰؛ د کلتوري ميراث پاليسي پاراګراف ۳ او ۱۶.

29. دفتر به خپل هغه اساسي ګامونه لا پیاوړي کړي کوم ئې چې په کاري ساحه کې د جنسیت او د ماشوم-محوري تګلارې د پلي کولو په موخه د کارکوونکو د مهارتونو د لوړاوي لپاره اخيستي دي، د دې په پوهېدو سره چې هغه قربانیان چې جنسيتي تبعیض تجربه کوي یا یې په خطر کې دي ډېری وختونه په لوړه کچه د جنسيتي تعذيب په وړاندې زیانمونکي وي. همدا شان دفتر به د تبعیض په وړاندې یوه متقابله تګلاره خپلوي چې په بشپړه توګه د جنسیت، عمر او د یو فرد د هویت د نورو اړخونو یا شرایطو (لکه قوم، نژاد یا ټولنیز بنیاد، بومي حیثیت، ژبې، دین یا عقیدې، سیاسي یا بلې نظریې، ملیت، کلتور، شتمنی، زېږیدنې، روغتیا یا بل مؤقف، د معلولیت حالت، بې وطنی، د کډوالی یا پناه غوښتنې حالت، او داسي نورو)[39] ترمنځ خپلمنځي اړیکې منعکسې کړي، چې کېدای شي د تعذیب یا نورو جرمونو په وړاندې د دوی زیانمنېدل زیات کړي، او د دفتر د عملیاتي فعالیتونو په پلانولو کې مرسته وکړي.

30. هرکله چې ممکنه وي، دفتر به د خپلو کاري صلاحیتونو په نظر کې نیولو سره،د دولتونو او نورو سهم لرونکو له خوا هغه تکمیلي هلې ځلې هڅوي چې جنسيتي تعذیب ودروي، مخه یې ونیسي او سزا ورته وټاکي چې په کې د کورنې تطبیق د هڅولو له لارې، پخپلو تکمیلي ارزونو کې د جنسیت پر بنسټ جرمونو لپاره د حساب ورکونې د کورنیو میکانیزمونو لپاره د ځانګړې پاملرنې په شمول، د پوهاوي لوړولو فعالیتونو کې برخه اخیستل، او د غوره دودونو تبادله کول شامل دي چې له کورنیو پلټونکو او تحقیقي ستراتیژیو څخه زده کړه وکړي او حمایه یې کړي. همدا ډول دفتر به هڅه کوي چې له ملي چارواکو او نورو اړوندو سهم لرونکو سره مرسته وکړي چې څنګه مناسبه وي، دا جرایم وپلټي او تعقیب یې کړي.

## ۷. قانوني چوکاټ

31. د دفتر په اډانه کې د جنسيتي تعذیب په پام کې نیول د یو مشرح قانوني چوکاټ لکه اساسنامي (د عناصرو له خوا په وړاندې شوي تفسیر او تطبیق کې له مرستې سره) او قواعدو[40] دننه رامنځ ته کېږي.

32. د اساسنامي ۲۱(۳) ماده، د جنسیت پر بنسټ ترسره شوو جرمونو پر وړاندې د دفتر د فعالیتونو باندې، په ځانګړې ډول څرخي. دا ماده حکم کوي چې د اساسنامې تطبیق او تفسیر باید د بشر حقونو په نړیواله کچه پېژندل شوو قوانینو سره مطابقت ولري او د جنسیت پر بنسټ له هر ډول منفي توپیر څخه خالي وي هغه شان چې په ۷(۳) ماده کې تعریف شوي. له همدې امله، که مناسبه وي، محکمه کېدای شي د ۲۱ (۱)(ب)-(ج) او (۳) مادې مطابق پر نافذو تړونونو او د نړیوالو قوانینو پر اصولو او قواعدو باندې تکیه وکړي.

33. په همدې اساس، دفتر مکلف دی چې:

- په بشپړه توګه په قانوني چوکاټ کې له وړاندې شوو احکامو څخه ګټه واخلي ترڅو په اغېزمن ډول په خپلو ټولو کاري پړاوونو کې جنسيتي تعذیب ته رسیدګي ورکړي؛
- د بشرد حقونو له نړیوالو منل شوو قوانینو او د نافذو قوانینو سره چې د اساسنامې په ۲۱ ماده کې راغلي، ترڅنګ ئې له نورو سرچینو په کومه کې چې د تعذیب ، تبعیض او مساوات، جنسیت او اساسي حقونو اړوند قوانین شامل دي، اساسنامه تطبیق او تفسیر کړي؛

[39] د قوانینو نړیوال کمیسیون ته د ملګرو ملتونو د ځانګړي راپور ورکوونکي راپور وګورئ، د بشریت په ضد د جرایمو د کنوانسیون مسودې کې د ځورونې د دلایلو اړوندې تبصرې (۳۰ نومبر ۲۰۱۸)، وګورئ.
[40] د اساسنامې ۹ ماده.

- د لومړنيو تحليلونو او پلټنو په موخه د وضعيت او قضيو په داخلي تحليل کې جنسيتي تعذيب جرمونه شامل کړي، او د اساسي حقونو د شديدو محروميتونو د تحليل پر مهال د تعذيب د ټولو کړنو او اړوندو بشر حقونو سرغړونو جمعي اغېز په پام کې ونيسي.

- د اړتيا پر مهال، جنسيتي تعذيب ته، له نورو متقاطع (انترسکشنال) ځورونو سره چې پر سياسي، نژادي، مليتي، قومي، کلتوري، مذهبي يا نورو دلايلو بنا وي چې په نړيواله کچه په نړيوالو قوانينو[41] کې غيرمجاز گڼل شوي وي، وگورو، د تورنولو ستراتيژيو په پام کې نيولو سره، يوه متقابله تگلاره پلې کړي، او مرتکبين د تعذيب د مختلفو يا گڼو ډولونو لپاره حساب ته راکاږي چې په اساسنامه کې راوړل شوي دي؛ او

- هڅه وکړي د جنسيت پر بنسټ هر ډول منفي توپيرته چې ښايي د محکمې د کار په پايله کې راپورته شي رسيدگي وکړي[42].

34. د اساسنامې ۷(۱)(ح) مادې عناصر محکمې سره مرسته کوي تر څو دا ماده د اساسنامې سمه تفسير او تطبيق کړي[43]. دا ماده د تعذيب قشپړ عناصر د بشر ضد جرم په توگه توصيف کوي:

*لومړي عنصر: مرتکب، د نړيوالو قوانينو[44] خلاف، يو يا زيات کسان له اساسي حقونو څخه په شديده توگه محروموي؛*

*دويم عنصر: مرتکب ياد کس يا کسان د يوې ډلې يا ټولنې د هويت له امله په نښه کړي وي يا يې بالعکس نوموړې ډله يا ټولنه د ياد کس يا کسانو سره د تړاو په وجه موخه گرځولې وي؛*

*دريم عنصر: دا ډول نښه کول پر سياسي، قومي، مليتي، نژادي، کلتوري، مذهبي، **جنسيتي** دلايلو بنا وي لکه څنگه چې د اساسنامې په ۷ ماده، ۳ فقره کې تعريف شوي ، يا پر کوم بل بنياد چې په نړيواله کچه په نړيوالو قوانينو کې غيرمجاز پېژندل شوی وي؛*

*څلورم عنصر: دا کړنه د اساسنامې په ۷ ماده، ۱ فقره کې د يادو شوو کړنو په تړاو يا د محکمې په صلاحيت کې د کوم بل جرم په تړاو ترسره شوې وي[45]؛*

*پينځم عنصر: دا کړنه د يوې ملکي ډلې پر ضد د يو پراخ يا سيستماتيک بريد د يوې برخې په توگه ترسره شوې وي؛ او*

*شپږم عنصر: مرتکب پوهيده چې دا کړنه د يوې ملکي ډلې په ضد د يو پراخ يا سيستماتيک بريد يوه برخه ده يا يې په قصدي ډول ترسره کړې وي.*

35. دا عناصر د اساسنامې له حکمونو څخه لوړ، جلا معيارونه نه دي. د ۹ مادې مطابق، نومړي عناصر محکمې سره د جرمونو د تفسير او تطبيق په برخو کې، د اساسنامې مطابق، مرسته کوي. دا ټول عناصر به په خپل وار سره پر جنسيتي تعذيب د پلي کيدلو لپاره په پام کې نيول کېږي.

---

[41] دفتر په پام کې لري چې، د ۲۱(۳) مادې په رڼا کې، هغه کړنې چې ماشومان د عمر يا زيږيدنې پر بنسټ تر هدف لاندې نيسي ښايي د «نورو دلايلو پر بنسټ» تعذيب په توگه ثبت شي؛ دفتر تصديقوي چې ماشومان هم په متقاطع دلايلو سره تر تعيب لاندې نيول کيدلی شي، لکه نژاد، مذهب او جنسيت. د ماشومانو پاليسي، پاراگراف ۵۱.

[42] د اساسنامې ۲۱(۳) او ۶۸(۱) مادې.

[43] د اساسنامې ۹ ماده.

[44] دا غوښتنه د جرايمو د عناصرو د عمومي پيژندگلوی د ۶ پاراگراف په وړاندې له تعصب څخه خالي ده.

[45] د دې عنصر لپاره نورو اضافي رواني عناصرو ته اړتيا نشته، پرته له هغو چې په ذاتي توگه په ۶ عنصر کې دي.

*لومړی عنصر: مرتکب، د نړیوالو قوانینو46 خلاف، یو یا زیات کسان له اساسي حقونو څخه په شدیده توګه محروموي؛*

.36 د اساسنامې ۷(۲)(ز) مادې پر اساس « تعذيب » د يوې ډلې يا ټولنې د اساسي حقونو څخه هغه عمدي او شدید محرومیت ته وېل کېږي چې د ددوي د هویت پر بنیاد، د نړیوالو قوانینو خلاف، ترسره شوی وي.

.37 د اساسنامې د ۲۱(۱)(ب) مادې مطابق، د اساسي حقونو د محروميت ارزولو پر مهال، دفتر د بشر حقونو نړیوالي اعلامیې؛ د ملکي او سیاسي حقونو نړیوال کنوانسیون؛ د اقتصادي، ټولنیزو او کلتوري حقونو نړیوال کنوانسیون؛ د شکنجې، زور زیاتي، غیر انساني یا د سپکاوي ډک چلند یا سزا پر ضد کنوانسیون؛ د ښځو په وړاندې د هر ډول تبعیض له منځه وړلو کنوانسیون؛ د ماشومان د حقونو کنوانسیون؛ د نژادي تبعیض د له منځه وړلو نړیوال کنوانسیون؛ د معلولیت لرونکو اشخاصو کنوانسیون؛ د بشري او د خلکو د حقونو افریقایي منشور؛ د بشر حقونو امریکایي کنوانسیون؛ او د بشر حقونو په اړه اروپایي کنوانسیون47، او همدا ډول په نړیوالو دوديزو قوانینو48 کې نورو حقونو ته مراجعه کوي.

.38 دفتر پوهېږي چې د جزا نړیوالي محکمې او نورو محکمو د قضايي طرزالعملونو یوه بدایه ټولګه وړاندې کړې چې یو پراخ شمېر کړنې او خطاکاني منعکس کوي د کومو پاېله کې چې، په انفرادي یا جمعي توګه، د اساسي حقونو د شدیدو محرومیتونه رامنځته کوی . دا شان محاکمو پر دې پوهیدلو سره چې د اساسي حقونو یو ثابت تعریف به د عدالت ګټې تامین نه کړای شي، د اساسي حقونو پراخ شمېر په رسمیت پېژندلي49.

.39 د جنسيتي تعذيب  د لومړني عنصر ګام هغه وخت پوره کېږي چې کله په اساسنامې کې راوړل شوی جرم[جرمونه] د تبعیض په نیت ترسره شي50. په اساسنامې کې ټول جرمونه له اساسي حقونو سرغړاوی ګڼل کېږی، ځکه چې د جنسیت پر بنسټ د تعذیب  ټولي قضیې، د تبعیض څخه د مصؤنیت اساسي حقونو څخه سرغړاوی دی. په ټوله کې د تبعیض څخه د مصؤنیت حق سرغړاوی د هر هغه جرم په واسطه چې په اساسنامې کې منع شوي، تل د اساسي حقونو شدید محرومیت ګڼل کېږي. په هر حال، د شدت د ارزوني لپاره، د تبعیضي دلایلو پر بنیاد د اساسي حقونو محرومیت باید تل په جمعي توګه په پام کې ونیول شي.

---

46 دا غوښتنه د جرايمو د عناصرو د عمومي پېژندګلوی د ۶ پاراګراف په وړاندې له تعصب څخه خالي ده.

47 د بشر حقونو او اساسي ازاديو د خونديتوب د کنوانسيون په توګه هم پېژندل کېږي.

48 دا لست بشپړ نه دی. پورته ۲۴ پاراګراف وګورئ. همدا ډول د برونډي ۱۵ مادې پرېکړه وګورئ ICC-01/17-X,، ۳۳۱.

49 د الحسن په قضيه کې د قبل المحاکمې څانګې د څارنوالی له ادعا وروسته د يو پراخ شمېر اساسي حقونو د سرغړونو تائيد وکړ: «چې د تمبکتو خلک د اساسي حقونو له سرغړونو کړيدلي دي، لکه د مذهب د ازادی حقونه، د بيان ازادي، د فکر ازادي، د ډلو او غونډو جوړولو ازادي، د ټګ راټګ ازادي، د مساوات، ښووني او روزنې، محرميت، شخصي عزت، امنيت او شتمنی ازادي.» *څارنوال د الحسن په وړاندې*، د توقيف د جلب د صادرولو لپاره د څارنوال د عريضې په اړه د قبل المحاکمې څانګې پرېکړه، ICC-01/12-01/18, ، پاراګراف ۸۸؛ او *همدا ډول د برونډي* ۱۵ مادې پرېکړه ICC-01/17-X, ، پاراګراف وګورئ ۱۳۲؛ *څارنوال د کرنوېليچ په وړاندې*، IT-97-25-T, , د محاکمې څانګې ۲ پرېکړه، *پاراګراف ۴۳۳؛ څارنوال د کووچکا په وړاندې*، د محاکمې څانګې پرېکړه، IT-98-30/1-T, , پاراګراف ۱۸۶ (*متحده ايالتونه د ايرنست وون ويزساکر*، جلد ۱۴، د نورمبرګ نظامي محکمې په وړاندې د جګړې د مجرمينو محاکمې د کنټرول کونسل قانون لاندې ګڼه ۱۰، مخ ۴۷۱ نقلوي)؛ *څارنوال د بلاشکيچ په وړاندې*،د محاکمې څانګې پرېکړه، IT-95-14-T, , پاراګراف ۲۳۳. د نورمبرګ محاکمې وموندله چې د ښووني او روزنې يا ګومارنې فرصتونو، يا د زوج د انتخاب د حقونو د انکار په څېر کړنې د مذهبي ځوروني ډولونه دي؛ *څارنوال د تاديچ په وړاندې*، د محاکمې څانګې پرېکړه، IT-94-1-T, , پاراګراف ۷۱۰.

50 په ډېرو کمو بېلګو کې، يو څه استثناآت شته، لکه د څور تالان يوه واحده کړنه.

40. د محکمې ماموريت چې «معافيت له منځه يوسي» دفتر اړ کوي چې د تعذيب د ټولو کړنو جمعي اغېز په پام کې ونيسي[51]. په ځانګړې توګه، د دې په پېژندنې سره چې د دې ډول کړنو جمعي اغېز کېدای شي دفتر ته د اساسنامې د ۱۷(۱)(د) مادې په موخه د قضيې د شدت ارزولو په برخه کې معلومات وړاندې کړي، او همدا ډول له دوی سره د ناوړه چلند د حد او اهميت په سمې تشريح سره د قربانيانو او اغېزمنو شوو ټولنو ګټې خوندي کړي.

*دويم عنصر:مرتکب شخص يو يا ځو کسان د يوی ډلی او يا اجتماع هويت په خاطر تر هدف ګرځولی دی او يا هم يی خپله ډله و يا هم ټولنه په نښه کړی دی. مرتکب يو کس يا ځو کسان د يوې ډلې يا ټولنې د هويت له امله په نښه کړي وی يا يې بالعکس نوموړې ډله يا ټولنه د کس يا کسانو سره د تړاو په وجه موخه ګرځولي وي.*

41. د اساسنامې ۷(۱)(ح) ماده د منع شوو دلايلو پر اساس *د يوې مشخصې ډلې يا ټولنې خلاف*، تعذيب جرم ګڼي. ۷(۲)(ز) ماده تعذيب «د يوې ډلې يا ټولنې د هويت *په بنياد*» د نړيوالو قوانينو خلاف د اساسي حقونو د عمدي او شديد محروميت په توګه تعريفوي. په مجموع کې، ياد شوي عناصر د ډلې يا ټولنې د هويت له امله خلک په نښه کوي يا پخپله ډله او ټولنه په نښه کوي. له همدې امله، د 7 (1) (2) (h) مادې له مخې، مرتکب بايد (1) يو يا څو کسان د يوې ډلې يا ټولنې سره د تړاو له امله په نښه کړي، يا (2) پخپله ډله يا ټولنه په نښه کړي.

42. د تعذيب په ټولو ډولونو کې، اشخاص کېدای شي د جنسي ځانګړنو او/يا د جنسيتي چلند، نقشونو، فعاليتونو او ځانګړتياو د تعريفولو لپاره د کارېدونکو ټولنيزو جوړښتونو او معيارونو له امله د جنسيتي تعذيب نښه شي[52]. د بېلګې په توګه، اشخاص کېدای شي هغه وخت د جنسيتي تعذيب  موخه وګرځي چې کله داسې وانګېرل شي چې دوی هغه (جنسيتي)معيارونه پوره کوي چې د مرتکب له خوا منع شوي دي؛ يا هغه (جنسيتي) معيارونه نه پوره کوي چې د مرتکب له خوا لازمي دي[53].

43. ياد شوی عناصر روښانه کوي چې «په نښه شوې ډله» بايد له پراخې زاويې وکتل شي. لازمي نه ده چې ټول په نښه شوي اشخاص دې په مستقيمه توګه، د په نښې شوې ډلې برخه واوسي[54]. دا هم کافي ده چې دوی د په نښه شوو غړو خواخوګي وي يا ور پورې يو څه تړاو لري[55]. د بېلګې په توګه، که يو مرتکب يو ښوونځي په نښه کوي چې نجونې له ورتګ څخه منع کړي، هغه سړي چې په ياد ښوونځي کې ښوونکي او کارکوونکي دي هم د په نښه شوې ډلې برخه ګرځي، چې د په نښه کولو دليل يې د جنسيت پر بنسټ دی.

---

[51] د اساسنامې سريزه.
[52] د جنسي او جنسيت پر بنسټ جرايمو پاليسي، مخ ۳؛ د روغتيا نړيواله اداره، «جنس او جنسيت».
[53] *څارنوال د اونګوين په وړاندې*، د محاکمې د ۹ څانګې پرېکړه، ICC-02/04-01/15, پاراګراف ۲۷۳۵-۲۷۳۷ («د اونګوين محاکمې پرېکړه»).
[54] د انتاګاندا قبل المحاکمې څانګه، د بشريت په ضد جرم په توګه د ځورونې په موندلو کې وويل چې د غيرهيما ملکي وګړو په وړاندې ترسره شوو جرايمو نژادي اساس درلود. د انتاګاندا ځورونه، قبل المحاکمې ۲ څانګې پرېکړه چې د ۶۱(۷)(الف) او (ب) مادې مطابق ترسره شوې ده، ICC-01/04-02/06-309, پاراګراف ۵۸. (ICTY) هم ځورول شوې ډلې ته اجازه ورکړه چې د بشريت په ضد جرايمو تورونو کې په منفي توګه تعريف شي، او د غيرسربيانو په وړاندې ځورونې ته يې اجازه ورکړه چې په ډېرو قضيو کې ثبت شي. لکه، *څارنوال د ستاکيچ په وړاندې*، د څانګې پرېکړه، IT-97-24-A, , پاراګراف ۲۶. د ۶ مادې- ټولوژنې لپاره د جرايمو د عناصرو (۲) فرعي پاراګراف وګورئ: «دې شخص يا اشخاصو په يوې ځانګړې ملي، نژادي، قبيلوي يا مذهبي ډلې پورې تړاو درلود.»
[55] د *ناليتيليچ او مارتينوويچ* د محاکمې څانګې وويل چې «په نښه شوې ډله کې يوازې هغه اشخاص نه دي شامل چې د يادې ډلې (مذهبي، قبيلوي يا سياسي) معيارونه پوره کوي. په نښه شوې ډله بايد په پراخه توګه تفسير شي، او ښايي په ځانګړې توګه په کې هغه اشخاص شامل شي چې د *مرتکب له خوا د قرباني شوې ډلې سره د تړاو يا نږدې همدردی له امله په يادې ډلې پورې تړلې حساب شوي وي.» څارنوال د ناليتيليچ او مارتينوويچ په وړاندې،* IT-98-34-T, د محاکمې څانګې پرېکړه، پاراګراف ۶۳۶. «په اصل کې مرتکب دی چې زيانمنونکي ډله تعريفوي په داسې حال کې چې په نښه شوې ډله د خپل حالت پر تعريف هيڅ اغېز نه لري.»

44. همدا ډول کافي ده چې مرتکب يو کس د په نښې شوې ډلې غړی يا ورپورې تړلی وګڼي[56]. د بېلګې په توګه، که يو مرتکب يو کس د دې لپاره په نښه کوي چې هغه ئې همجنسباز انګېري، نو دا غیرمرتبطه خبره ده چې نوموړی کس خپل ځان همجنسباز نه ګڼي يا کنه[57]. دا چې مرتکب په ناسمه توګه يو کس د يوې په نښه شوې ډلې غړی ګڼي، په دې کار سره يې کړنه د تبعيضي ځانګړنې څخه نه خلاصيږي[58].

45. د تعذيب  د نورو ډولونو په څېر، ټول اشخاص د جنسيتي تعذيب  ښکار کيدلی شي ځکه چې ټول اشخاص جنسيتي هويت لري لکه څنګه چې ټول قبيلوي او نژادي هويتونه لري. په نښه شوو ډلو کې ښايي ښځې، نجونې، سړي، هلکان او (LGBTQI+) اشخاص شامل وي. اړوندو ډلو ته د تبعيضي په نښه کولو په موخه جنسيتي ځانګړو معيارونو کې چلند، نقشونه، فعاليتونه او ځانګړنې شامليږي. د بېلګې په توګه، ښځې او سړي کېدای شي د جامو[59] له امله يا د همجنسبازۍ له امله يا د همجنسبازانو په څېرد چلند[60] له امله په نښه شي. په تبعيضي معيارونو کې کېدای شي فزيولوژيکي خصوصيات او ځانګړنې هم شاملې شي چې په نارينه  او ښځينه وو پورې تړلې وي. د بېلګې په توګه، يو مرتکب کېدای شي ښځې او نجونې د حمل اخيستلو د وړتيا له امله په نښه کړي[61]. هغه سړي او هلکان چې ږيرې يې نه راځي ښايي په نښه کړل شي[62]. بين الجنسيتي، نانباينری  يا ترانسجندر اشخاص کېدای شي له دې امله په نښه شي چې مرتکب تصور کوی چه هغوی په «نارينه/سړيو» يا «ښځينه» ډلو پورې تړاو نه لري[63].

*دريم عنصر: دا ډول په نښه کول پر جنسيتي دلايلو بنا دي لکه څنګه چې د اساسنامې په ۷ ماده، ۳ فقره کې تعريف شوي.*

---

[56] *څارنوال د ناليتيليچ او مارتينوويچ په وړاندې،* IT-98-34-T, د محاکمې څانګې پرېکړه، پاراګراف ۶۳۴. «په اصل کې مرتکب دی چې زيانمنونکي ډله تعريفوي په داسې حال کې چې په نښه شوې ډله د خپل حالت پر تعريف هيڅ اغېز نه لري.» همدا ډول *څارنوال د کرنوېليچ په وړاندې،* IT-97-25-A, د استيناف ۲ څانګې پرېکړه، پاراګراف ۱۸۵ ؛ *څارنوال د تاديچ په وړاندې،* د محاکمې څانګې پرېکړه، IT-94-1-T, د محاکمې څانګې پرېکړه، پاراګراف ۶۵۲ او ۷۱۴؛ *څارنوال د بلاشکيچ په وړاندې،*د محاکمې څانګې پرېکړه، IT-95-14-T, پاراګراف ۲۳۶؛ *څارنوال د کرستيچ په وړاندې،* IT-98-33-T, د محاکمې څانګې پرېکړه، پاراګراف ۵۵۷.

[57] د انتاګاندا د محاکمې پرېکړه، پاراګراف ۱۰۱۰-۱۰۱۱. که چېرته يو مرتکب يو شخص په نښه کوي چې نوموړی يې همجنسباز انګېري، او ياد شخص هم ځان همجنسباز معرفي کوي، دا ښايي د مرتکب لپاره د همجنسبازانو د په نښه کولو يو ثبوت وي. مګر، دا ډول تکرار لازمي نه دی.

[58] *څارنوال د ولاستمير دورووېچ په وړاندې،* IT-05-87/1-A, د *استيناف* څانګې پرېکړه، پاراګراف ۲۰۳ (نقل *څارنوال د کرنوېليچ په وړاندې،* IT-97-25-A, د *استيناف* څانګې پرېکړه، پاراګراف *۱۸۵).*

[59] د الحسن قبل المحاکمې څانګې ومونډله چې قربانيان د داسې پاليسيو له لارې د جنسيتي او مذهبي ځورونکو کړنو لپاره په نښه شوي ول چې د قربانيانو د ژوند ورځني اړخونه يې تنظيمول. په دې کې د دوی د جامو په اړه مقررې، د سړيو او ښځو ترمنځ د تعاملاتو اداره کوونکې پاليسۍ او داسې نورې پاليسۍ شاملې وې چې د منحرفينو لپاره يې سختې سزاګانې وړاندې کولې. د الحسن د تورونو تائيدي، پاراګراف ۱۷۷، ۶۸۹، ۶۹۰ او ۶۹۷.

[60] په عراق کې د داعش او اړوندو ډلو د ترسره کړو جرايمو په رڼا کې د بشر حقونو د وضعيت په اړه د (OHCHR) راپور، A/HRC/28/18 (۲۷ مارچ ۲۰۱۵)، پاراګراف ۴۹؛ په ليبيا کې د خپلواک حقيقت موندونکي ماموريت راپور، A/HRC/48/83 , (۲۹ نومبر ۲۰۲۱)، پاراګراف ۵۲ (چې د تاوتريخوالي د کارولو يادونه کوي په ځانګړې توګه د هغو ښځو او سړيو په وړاندې چې د (LGBTQI+) اشخاصو په توګه پېژندل شوي وي)؛ د سوريې عربي جمهوريت کې د پلټنې د نړيوال خپلواک کمېسيون راپور، A/HRC/46/54 (۲۱ جنوري ۲۰۲۱)، پاراګراف ۵۲؛ د ۲۰۱۴ کال د سپټمبر راهيسې د سرغړونو او ناوړه ګټو اخيستنو په شمول، په يمن کې د بشر حقونو وضعيت، A/HRC/45/CRP.7 (۲۹ سپټمبر ۲۰۲۰)، پاراګراف ۲۱۸، *وګورئ.*

[61] په عراق کې د داعش او اړوندو ډلو د ترسره کړو جرايمو په رڼا کې د بشر حقونو د وضعيت په اړه د (OHCHR) راپور، A/HRC/28/18 (۲۷ مارچ ۲۰۱۵)، پاراګراف۴۱، *وګورئ.* ترانسجندر سړي او هلکان هم ښايي د حمل اخيستلو د وړتيا له امله په نښه کړل شي.

[62] په عراق کې په وسلواله شخړه کې د ملکي وګړو د خونديتوب په اړه راپور: ۱ مې – ۳۱ اکتوبر ۲۰۱۵ (۵ جنوري ۲۰۱۶)، مخ ۱۹.

[63] همدا ډول د خپلسرو وژنو لپاره د جنسيت حساسې تګلارې لپاره، د صحرايي، ماوراء عدالتي يا خپلسرو اعدامونو په اړه د ملګرو ملتونو د ځانګړي راپور ورکوونکي راپور، A/HRC/35/23 (۶ جون ۲۰۱۷)، *وګورئ.*

46. د (جنسيتي) تعذيب ذهنی عناصر په لاندې ډول دي. مرتکب شخص:

- غوښتل ئې چې د اساسي حقونو د شديد محروميت لامل شي یا پوهیدلو چې دا چاره به د پېښو په عادي حالت کې رامنځ ته شي؛
- د تبعیض (د جنسيتي ځانګړونو په بنياد په نښه کول چې په اساسنامې کې راغلي) مشخصه اراده يې لرله؛ او
- پوهېده چې دا کړنه د یو پراخ يا سيستماتيک برید یوه برخه ده يا ئې قصد درلود چې د برید یوه برخه واوسي.

47. تر هغې پورې چې کس د ۲۵(۳)(الف) مادې مطابق د مستقيم مرتکب، د مرتکب-شريک او/یا غيرمستقيم مرتکب په توګه نه وي تورن شوی، هيڅ لازمه نه ده چې ثابته کړل شي چې متهم کس د تبعیض ځانګړې اراده درلوده. په هر حال، د مسؤليت د طريقو نور ذهنی عناصر بايد ثابت کړل شي. په دې حالت کې، کافي ده چې مرتکبينو د تبعیض کولو لپاره ځانګړې اراده لرلې وي.

48. د «انګېزې» او «ارادې» مفاهيم بايد سره ګډوډ نه کړل شي. د یو جرم ترسره کولو انګېزه د جرم د ارتکاب د قصد او ارادې سره يو شان نه ده. دا چې يو مرتکب پيسي د حرص له امله غلا کوي، مهمه نه ده. ډواځې پوښتنه دا ده چې آيا مرتکب د غلا ترسره کولو قصد درلوده که نه.

49. د جنسيت پر بنسټ تعذيب جرمونه د ترسره کولو د قصد او ارادې ترڅنګ، د جنسيتي تعذيب لپاره تبعيضي اراده هم لازمه ده او بايد ثابته کړل شي. شخصي انګېزې بايد د تبعيضي ارادې په توګه تفسير نه کړل شي[64]. د بېلګې په توګه، د جنسی تيری شخصي انګېزه کې ښايي «جنسي لذت» يا د جنسی تيری ترسره کولو «فرصت» شامل وي[65]. دا ډول انګېزې د تبعيضي ارادې د کمولو په معنی نه دي. شخصي انګېزه بايد د مرتکبينو په ارادې سره تفسير نه شي چې د جنسيت په دليل يې عمل کړی وي. د تبعیض کولو اراده هغه وخت څرګنديږي چې کله مرتکب په ځانګړې توګه اراده لري چې د يوې په نښه شوې جنسيتي ډلې يا د هغې ډلې د يو غړي سره نامساوي چلند وکړي.

50. تبعيضي اراده بايد د جنسيت پر بنسټ د یوې ډلې په ضد د يوې ځورونکي کړنې په نامتناسبې کاروني کې ثابته کړل شي. یا بايد د ګڼو ډلو په ضد د ورته ځورونکي ترسره شوې کړنې د کاروني له لارې مشاهده کړل شي چې د جنسيت پر بنسټ په جلا ډول په نښه شوې وي. دا موضوع د تعذيب د ارادې يو هر اړخيز پوهاوي ته اړتيا لري.

51. د بېلګې په توګه، مرتکبين کېدای شي د جنسيت په دليل، د جنسی تيری له لارې ښځې او سړي په جلا ډول په نښه کړي. مرتکبين کېدای شي ښځې او نجونې په نښه کړي ځکه چې دوی ته د «وينځو» يا «د جګړې د غنيمت» په سترګه ګوري[66] (د دې عقيدې پر بنسټ چې ښځې له سړيو څخه کمې دي او بايد د ملکيت غوندې چلند ورسره وشي). په ورته وخت کې، مرتکبين ښايي سړي او هلکان د جنسی تيری له لارې «د ښځينه کولو» د يوې ستراتيژۍ په توګه په نښه کړي او/يا دا چې د ښځې يا «همجنسباز» په توګه چلند کولو سره د دوی «سپکاوی» وکړي (د دوي د دې عقيدې پر بنسټ چې د سړي مؤقف له ښځو يا (+LGBTQI) اشخاصو څخه لوړ دی.

[64] د (ICTY) د استيناف څانګې وويل چې «شخصي انګېزه يو مرتکب ته برائت نه ورکوي چې لازمه ځانګړې اراده ولري» او ټينګار يې کولو چې «همدا اصل پر جنسي جرايمو هم تطبيقيږي، چې په دې تړاو بايد له نورو متشددو کړنو څخه جلا ونه ګڼل شي چې جنسي برخه لري». *څارنوال د دورديويچ په وړاندې،* [IT-05-87/1-A,](IT-05-87/1-A) *د استيناف څانګې پرېکړه،* پاراګراف ۸۸۷. د (ICTY) د کووچکا محاکمې څانګې ومونډله چې په توقيف کې د ښځو په وړاندې د جنسي تاوتريخوالي ترسره کول د دوی د توقيف «طبيعي يا متوقعه پايله» وه، ځکه چې د جنسی تيری ر او د جنسي تاوتريخوالي د نورو ډولونو په شمول، تاوتريخوالی او سپکاوی د هغو ښځو په وړاندې د ترسره شوي تاوتريخوالي يوه منل شوې بڼه وه چې د نژادي دښمنانو په جامه کې نيول شوې وې. *څارنوال د کووچکا په وړاندې،* [IT-98-30/1-T,](IT-98-30/1-T) د محاکمې څانګې پرېکړه، پاراګراف ۳۲۷.

[65] بايد په ياد ولرو چې شخصي انګېزې لکه «فرصت» يا «جنسي لذت» په يوازې ځان کافي نه دي چې تبعيضي اراده ثابته کړي، که څه هم دا د تبعيضي ارادې ثبوت کيدلی شي.

[66] د جنسی تيری ټول قربانيان د سپکاوي ښکار شوي دي. په ځينو مواردو کې ښايي ښځې او نجونې له دې امله د جنسی تيری لپاره په نښه کړل شي چې مرتکب ته جنسی تيری د قرباني د نقش يوه برخه ښکاري، د بېلګې په توګه، د جنسي غلامۍ په حالت کې. د «اصلاحی جنسی تيری » په مواردو کې ښځې او نجونې ښايي د دې لپاره په نښه کړل شي چې د دوی د همجنسبازۍ «علاج» وشي. په وروستيو دوو بېلګو کې، مرتکبين ښايي د هغه سپکاوي انګېزه و نه لري چې د دې کړنې په پايله کې رامنځ ته کېږي.

52. په پای کې، هغه شخصي انګېزې چې د تبعیضي ارادې شاهدي نه ورکوي تبعیضي اراده هم نه نفي کوي[67]. له همدې امله، کېدای شي مرتکبين د ځوروونکي کړني ترسره کولو پر مهال، داسې انګېزې ولري چې د تبعيضي ارادې شاهدي ورکوي په ورته وخت کې داسې شخصي انګېزې ولري چې د تبعیضي ارادې شاهدي نه ورکوي. د بېلګې په توګه، يو مرتکب کېدای شي له يوې ښځې سره د سپکاوي او د «جنسي لذت» لپاره جنسی تيری ترسره کړي[68].

53. د تبعیضي ارادې لپاره د تعصب او اړخ نيوني ښودلو ته اړتيا نشته. همدومره کافي ده چې وښيي چې مرتکب د جنسیت پر بنسټ عمل ترسره کړی دی[69]. د بېلګې په توګه، يو مرتکب ښايي د غلامۍ يا په زور د يوې ښځې يا نجلۍ د ودولو په څېر ځوروونکو کړنو ته د خپل «حق» په سترګه وګوري نه دا چې د شخصي تعصب يا قرباني شخص ته د سزا ورکولو په موخه يې ترسره کوي. (۹۱ او ۹۶ پاراګرافونه وګورئ). په هر حال، دا ډول کړني بيا هم د جنسیت پر بنسټ دي.

54. ددی باوجود، د شخصي انګېزې، اړخ نيوني او تعصب تشخيصول مهم دي ځکه چې دا ښايي د تشدیدوونکو عواملو په توګه کار وکړي، د هغه حالت په شمول چې کړنې په کې د جنسیت پر بنسټ ترسره کېږي[70]، او د دې ترڅنګ د تبعيضي ارادې په ثابتولو کې هم مرسته کولی شي. له همدې امله باید د مرتکب اراده او انګېزې په محتاطانه ډول تحليل او وسپړل شي.

55. همدا ډول مرتکبین کېدای شي چې يوه کړنه د تعذيب د ګنو يا اړوندو دلايلو پر بنسټ ترسره کړي. جنسيتي تعذیب ډېری وختونه ښايي، د سیاسي، قبيلوي، مليتي، نژادي، کلتوري، مذهبي يا نورو دلايلو پر بنياد د تعذيب له ګنو ډولونو سره چې په نړيواله کچه په نړيوالو قوانينو کې غیرمجاز پېژندل شوي رامنځته شي او تداخل ولري[71].

*ځلورم عنصر: دا کړنه د اساسنامې په ۷ ماده، ۱ فقره کې د يادو شوو کړنو په تړاو يا د کوم بل جرم چې عدلي او قضايي تعقيب لاندی راتلی شي، ترسره شوې وي.*

56. ۷(۱)(ح) ماده حکم کوي چې د جنسیت پر بنسټ تعذيب باید د اساسنامې په ۷(۱) ماده کې د يادو شوو کړنو په تړاو يا د کوم بل جرم چې عدلي اوقضايي تعقيب لاندی راتلی شي، ترسره شوې وي. له همدې امله، دا جرايم کېدای شي ټولوژنه، د بشرضد جرايم، د جګړې جرايم يا د استبداد جرايم وي.

---

[67] د تعذيب په توګه د جنسي تاوتريخوالي ترسره کولو شخصي انګېزې د تبعيض اراده نه نفي کوي، *ځارنوال د کووچکا په وړاندې*، IT-98-30/1-A، د استيناف څانګې پرېکړه، پاراګراف ۴۶۳؛ *ځارنوال د کوناراک په وړاندې*، د استيناف څانګې پرېکړه، IT-96-23 & 23/1-A، پاراګراف ۱۰۳ او ۱۵۳.

[68] د اساسي ځوروونکي کړنې په توګه د سپکاوي د بحث کولو ۳۲، ۶۶ او ۶۷ لمنليکونه وګورئ.

[69] په ورته توګه، د تبعيض اړوند د بشر حقونو نړيوالو قوانينو کې، هيڅ داسې مکلفيت نشته چې حقيقي اړخ نيونه ثابته کړي.

[70] د کړنلارو او ثبوت اصول، اصل ۱۴۵(۲)(ب)(۵). د دې اصولو په ۱۴۵(۲)(ب) اصل کې وضع شوو تشديدوونکو شرايطو کې «د ۲۱ مادې په ۳ فقره کې د يادو شوو دلايلو پر بنسټ دخيل تبعيض د هر ډول انګېزې له مخې د جرم ترسره کول» شامل دي، چې جنسيت هم په کې شامل دی.

[71] پورته ۴۱ لمنليک وګورئ. همدا ډول د الحسن د تورونو تائيدي وګورئ. د الحسن قبل المحاکمې څانګې د جنسيتي او قبيلوي تبعيض د ډولونو ترمنځ د تقاطع په اړه تبصره وکړه، او يادونه يې وکړه چې «د ښځو په وړاندې د تاوتريخوالي انګېزې نور عوامل هم لرلی شي لکه د پوستکي رنګ، ځکه چې د تیاره رنګ لرونکې ښځې د نورو پرتله ډېرې د دې تاوتريخوالي قرباني شوې وې؛ په ورته توګه د تیاره رنګ لرونکي سړي، د ځينو شاهدانو په وينا، د روښانه رنګ لرونکو سړيو په پرتله ډېر ځورول شوي ول.» د الحسن د تورونو تائيدي، پاراګراف ۷۰۲. همدا ډول جنسيتي تعذيب د نورو متقاطع نژادي، سياسي او/يا مذهبي تبعيضي دلايلو تر څنګ د سيد او الرحمان په قضيو کې وارده شوې وه. د الرحمان د تائيدی پرېکړه، ICC-02/05-01/20-433، او د سيد د تائيدی پرېکړه ICC-01/14-01/21-218.

57. د جنسيتي تعذيب تورونه د جرمونو بشپړه لړۍ رانغاړي او د جرم نه د معافيت کلتور د خاليګاه په ډکولو کی مرسته کولی شی. . دا ډول تورونه ښايي د يو لړ جنسيت پر بنسټ کړنو په رابرسېره کولو کې مرسته وکړي چې کيدای شي د ډېرو حقوقي جرمونو په محدوده کې شتون ولري او يا هم شتون ونه لري.

58. جنسيتي تعذيب د هغو جرمونو سره تړاو درلودلای شي چې کسانو ته له فزيکي ټپونو رسولو پرته نوري بڼې ولري، لکه پر شتمني يا خونديٍ شيانو بريدونه[72]، د بېلګې په توګه، هغه کړني چې د په نښه شوي ډلې لپاره د پام وړ ځايونه په نښه کوي. په دې ځايونو کې تاريخي، کلتوري، مذهبي، اقتصادي، ښوونيز، ټولنيز يا روغتيايي مرکزونه، دفترونه يا د غونډو ځايونه، عبادتځايونه، ارشيفونه، ادبي او هنري اثرونه شاملېدلای شي چې د ښځو، نجونو يا (LGBTQI+) ټولنو لپاره مهم وي. د دې ډول ځايونو له منځه وړل د جنسيتي تعذيب کړنې کيدلای شي.

*پينځم عنصر: دا ناوړه چلند د يوې ملکي ډلې په ضد د يو پراخ يا سيستماتيک بريد د يوې برخې په توګه ترسره شوی.*

*شپږم عنصر: مرتکب پوهېده چې دا کړنه د يوې ملکي ډلې په ضد د يو پراخ يا سيستماتيک بريد يوه برخه ده يا يې د ترسره کولو اراده درلوده.*

59. لازمه نه ده چې تعذيبی کړنې دې پراخې يا سيستماتيکې وي، په دې شرط چې يادې کړنې د ملکي وګړو په ضد د يو پراخ يا سيستماتيک بريد يوه برخه جوړوي.

60. که څه هم د يو بريد پر مهال د جنسيتي تعذيب د بيا ځلي کړنو ثبوت اړين نه دی، خو دا د ملکي وګړو په ضد د «بريد» پراخ يا سيستماتيک ماهيت ملاتړ کولی شي.

61. په بنسټنامه کې د جنسيتي تعذيب د تشخيصولو په موخه، د جنسيت پر بنسټ جرمونهو ترسره کولو د پاليسی او پلان ثابتولو ته اړتيا نشته. پرځای يې، لکه په بنسټنامه کې د بشريت په ضد د نورو جرمونهو غوندې، اړتيا ده چې د يو دولت يا اداري پاليسی اړوند، د ملکي وګړو په ضد يو پراخ يا سيستماتيک بريد ثابت کړل شي.

62. د يو بريد د پراخ ماهيت د ارزولو پر مهال به دفتر دې حقيقت ته پاملرنه کوي چې جنسيتي تعذيب ډېری وختونه د قربانيانو شمېر زياتوي، ځکه چې دا اغېزمنو شوو ټولنو او په ټوله کې بشريت ته زيان رسوي.

## VI. لومړنی ارزونه

63. ياد دفتر به د بنسټنامې او اصولو مطابق د وضعيت لومړنی ارزونه ترسره کوي تر څو معلومه کړي چې آيا د څېړنې د پيلولو لپاره شرايط مساعد دي – چې په دې کې د دې کتل هم شامل دي چې آيا داسې مناسب دليل شته چې باور وکړل شي چې د محکمې په قضايی صلاحيت کې شامل جرمونه په شمول دجنسيتي تعذيب جرمونه ترسره شوی دی او يا که نه[73].

64. د لومړنۍ پلټنې ترسره کولو پر مهال به دفتر هغو معلوماتو ته ځانګړې پاملرنه کوي چې د ادعا شوي جنسيتي تعذيب په تړاو د لاسرسي وړ ګرځيدلي وي. دفتر به د دې جرم د په ګوته کولو خندونه ځوابوي، چې په دې کې هغه حالت هم شامل دی چې ښځې[74]، سړي[75]، نجونې، هلکان[76] او (LGBTQI+) اشخاص[77] په کې په نښه شوي وي.

---

[72] د کلتوري ميراث پاليسي، پاراګراف ۲۹ (يادونه کوي «چې د کلتوري ميراث ځينې اړخونه ښايي په ځانګړې توګه په نښه کړل شي ځکه چې دا د يوې ځانګړې ډلې لپاره خاص ارزښت لري، لکه د يو ځانګړي جنس، جنسيت يا عمر ډلې ته»).

[73] د بنسټنامي ۵۳(۱) (الف)-(ج) ماده. همدا ډول د لومړنيو تحليلونو پاليسي، ۲ پاراګراف ولولئ.

[74] د آی آی آی ايم جنسيتي ستراتيژي، پاراګراف ۴-۵. «د هغو جرمونهو لپاره عدالت ته ډېری وختونه لومړيتوب ورکول کېږي چې سړي او هلکان په نښه کوي (لکه وژنې او اجباري ګومارنه) په داسې حال کې چې هغه جرمونه چې په نامتناسبه توګه ښځې او نجونې اغېزمنوي (لکه اجباري ودونه او اجباري بېځايه توب)، او د دوی شدت او اغېز ډېری وختونه له پامه غورځول کېږي. د آی آی آی ايم جنسيتي ستراتيژي، پاراګراف ۴.

[75] «يوه بله کليشه يې ستونزه دا ده چې نړيوال بشردوستانه قوانين په دوامداره توګه د جنسی تيری جرم له ښځو سره تړي، او دا ناسم پوهاوی پياوړی کوي چې سړي او هلکان تری نه اغېزمنېږي. دا چاره د نارينه وو په وړاندې د جنسي تاوتريخوالي راپورته کول او ځوابول ستونزمنوي، په ځانګړې توګه دا چې منفي کلېشې د نارينتوب، هوموفوبيا او اړوندو پېغورونو له وېرې د نارينه قربانيانو د رامخکې کيدلو خنډ ګرځي.» د آی آی آی ايم جنسيتي ستراتيژي، مخ ۱۲.

[76] د آی آی آی ايم جنسيتي ستراتيژي، مخ ۱۲.

[77] «همدا ډول کلېشه کول په دې معنی دي چې جنسي تاوتريخوالی د هغو کسانو په وړاندې ترسره کېږي چې متنوع جنسي او جنسيتي هويت ولري او د ماشومانو په اړه خبر نه ورکول کېږي او پام ورته نه کېږي.» د آی آی آی ايم جنسيتي ستراتيژي، مخ ۱۲.

65. يو جنسيتي تحليل ته اړتيا ده چې هغه زيانونه په ګوته او ځواب کړي چې ډېرى وختونه پټ پاتې وي. په جلا توګه د جنسي تيرى او د جنسي او غيرجنسي تاوتريخوالي د نورو ډولونو تحليلول ښايي د اړوندو حقيقتونو يا خوځښتونو له لاسه ورکولو لامل شي چې د تعذيب د بڼې په توګه د دوى ارتکاب څرګندوي[78]. له همدې امله، دفتر د جرمي خوځښتونو د جنسيتي تحليل پلي کولو ته ژمن دى چې د زيانونو پر هغه وضعيت او بريد باندې پوه شي چې قربانيانو تجربه کړى دى او د مناسبو ځوابونو او جبران لپاره معلومات برابر کړي.

66. د جنسيتي تعذيب د شدت او د هغې د پلټنې او څارلو د ارزښت په تصديقولو سره، دفتر به داډ ورکوي چې د جنسيتي تعذيب د ادعا شوو کړنو يا جرمونهو د اغېز يوې ارزونې ته د احتمالي قضيو د شدت په تحليل کې ځاى ورکړي.

67. د شدت د ارزونې پر مهال به دفتر د تعذيب د ګڼو ډولونو موجوديت، د کړنې يا کړنو ګڼ-مخيزه خاصيت، او ددې کړنو يا جرمونهو په پايله کې راپورته کيدونکي کړاوونه، زيان او اغېزې په پام کې نيسي. دفتر به د دې کړنو د تبعيضي بنسټ د ارزونې لپاره يوه متقاطع تګلاره پلي کوي.

68. دفتر به هغه عمومي وضعيت تحليلوي چې ادعا شوي جرمونه په کې پېښ شوي دي، په ځانګړې توګه هغه چې جنسيتي تعذيب په کې پېښې شوې وي[79]. د تحليل د يوې برخې په توګه، دفتر ښايي هغه معلومات بررسي کړي چې د بشري حقونو معاهده دفترونه ؛ د ملګرو ملتونو د عمومي منشي د دفتر؛ د ملګرو ملتونو د کارپوهانو؛ د ملګرو ملتونو د پلټنې او حساب ورکونې ميکانيزمونو يا نورو بنسټونو؛ د بشر حقونو د اړوندو سيمه ييزو ميکانيزمونو او محکمو؛ پوهانو؛ او مدني ټولنو له خوا يا د هغوى لپاره توليد شوي وي.

69. دفتر پوهيږى چې د جنسيتي تعذيب په اړه د معلوماتو په ګوته کولو او راغونډولو اړوند زياتې ننګونې شتون لري او ښايي له دولتونو، د ملګرو ملتونو کارپوهانو او بنسټونو، د ځايي او نړيوالو بنسټونو ، پوهانو، مدني ټولنو، د قربانيانو/ژغورل شوو له مختلفو ډلو، او نورو اړوندو بنسټونو او کارپوهانو سره په لومړيو پړاوونو کې ښکېل شي[80]. د ضرورت په اساس ، دفتر دې سرچينو ته د معلوماتو لپاره غوښتنې لېږلى شي. همدا ډول دفتر ښايي اړوندو ساحو ته ساحوي سفرونه وکړي چې له صلاحيت لرونکو ملي چارواکو او اغېزمنو شوو ټولنو سره سلا مشورې وکړي[81].

---

[78] د آی آی ایم جنسیتي ستراتيژي، مخ ۵.
[79] د جنسي او جنسيت پر بنسټ جرمونهو پاليسي؛ د لومړنيو تحليلونو پاليسي، پاراګراف ۸۶ ولولئ.
[80] د لومړنيو تحليلونو پاليسي، پاراګراف ۸۵-۸۶ ولولئ.
[81] د لومړنيو تحليلونو پاليسي، پاراګراف ۸۵ ولولئ.

70. دفتر به ممکنه هڅه کوي چې د دولتونو له خوا د جنسيتي تعذيب ملي پلټنې او څېړنې وهڅوي. همدا ډول دا به تړول اړوند ملي چارواکي او نور بنسټونه وهڅوي چې د رښتينو اجرآتو په وړاندې خنډونه لرې کړي، او د دې جرمونهو د قربانيانو لپاره ملاتړ وکړي. د رښتينو ملي اجرآتو نشتوالی به د دفتر له خوا د دفتر د لومړنی پلټنې په پالیسی کې د لست شوو شاخصونو په رڼا کې ارزول کېږي[82]. دفتر ښايي په خپله تکميلي ارزونه کې د ملي چارواکو د وړتيا يا لېوالتيا يوه جلا ارزونه په پام کې ونيسي چې د جرمونهو له نورو کټګوريو څخه په جلا ډول جنسيتي تعذيب ته ځواب ووايي.

71. دفتر به هڅه وکړي چې په وخت سره د تاوتریخوالي زياتيدونکو پېښو ته ځواب ووايي چې د جنسيت پر بنسټ تعذيب پېښې رامينځته کوي يا د دوی د زياتوالي لامل کيدی شي.. دفتر به له دولتونو، د ملګرو ملتونو کارپوهانو او بنسټونو او مدني ټولنو سره په لومړنيو پړاوونو کې ښکېلېږي چې د ادعا شوو جنسيتي تعذيب په اړه معلومات تائيد کړي[83]. که د دفتر په صلاحيت کې وي، نو ښايي د جنسيتي تعذيب د چټکوالي د مخنيوي لپاره بياني صادرې کړي، مرتکبينو ته اخطار ورکړي او رښتيني ملي اجرآت وهڅوي.

## VII. څېړنې

72. دفتر به په ډېر ځېرتيا د يوې پلټنې په لومړنيو پړاوونو کې جنسيتي تعذيب په پام کې نيسي، او په فعاله توګه به د پلټنو ځانګړې کړښې په کې شاملوي چې تشخيص کړي چې آيا دا جرمونه پېښ شوي که نه. دا چاره به د سرچينو د اغېزناکې کارونې، د شواهدو راټولولو او تحليل لپاره د کافي وخت، ستراتيژيکي پلان جوړونې او پرېکړې کولو ډاډ ورکړي.

### *الف. چمتووالی*

73. دفتر به د بنسټي حقونو سرغړونې، له کړنو يا جرمونهو سره يې تړاو او د يوې يا ډېرو ډلو د غړو په نښه کول تشخيصوي. کارکوونکي به طرحه شوې روزنې ترلاسه کوي چې له دوی سره د ځورونکي کړنې اړوندو بېلګو، سرو کړښو او واقعي فکتورونو، چې د جنسيت پر بنسټ تعذيب هم په کې شاملې دي، په تشخيصولو کې مرسته وکړي.

74. کارکوونکي به پوهاوی ترلاسه کړي او ورڅخه به غوښتل کېږي چې په فعاله توګه خپل ځانونه له ځايي دودونو، مذهبي عرفونو او رواجونو، او کلتوري موضوعاتو سره، چې په دې چوکاټ کې د ښځو، نجونو، سړيو، هلکانو او (+LGBTQI) کسانو وضعيت هم شامل دی، اشنا کړي. همدا ډول دفتر به د بنسټي حقونو د سرغړونو هر ډول ادعاوې (که چرته پوه شي چې وي، چې څنګه په معمول ډول په سيمه کې راڅرګندېږي) او ټول نور لاملونه چې د څېړنې په ماموريت او د مرکې په پروسه کې مرسته کولی شي، تحليل کړي. د اړوندو کارپوهانو يا د پس منظر شاهدانو په ګوته کول چې د هغه تاريخي، کلتوري او ټولنيز وضعيت په اړه معلومات ورکولی شي چې جرمونه په کې واقع شوي دي د هرې جنسيتي تعذيب د څېړنې يوه نه بېليدونکې برخه ده. دفتر ښايي د هيواد متخصصين په انفرادي متحدو ټيمونو کې وګوماري چې د وضعيت-مختصه پوهه ولري اويا په دې موضوع ګانو کې تخصص ولري.

75. شبکې د جنسيتي تعذيب د اغېزناکو څېړنو لپاره حياتي دي. دوی د هغو ننګونو په له منځه وړلو کې هم مرسته کوي چې په څېړنو کې د جنسيت پر بنسټ ترسره شوي جرمونه شامل وي، لکه د قربانيانو او شاهدانو تشخيصول. د شبکو د جوړولو لپاره به دفتر د ځايي ټولنو او د مدني ټولنو د موجوديت په تړاو، د لومړني تحليل پړاو په موده کې ترلاسه شوي معلومات په پام کې نيسي.

---

[82] د لومړنيو تحليلونو پاليسي، پاراګراف ۵۵-۵۰ ولولئ.
[83] د لومړنيو تحليلونو پاليسي، پاراګراف ۱۸ ولولئ.

76. د جنسیتي تعذیب د قربانیانو او شاهدانو سره د ښکېلتیا اړوندو ننګونو او د دې کار د حساس ماهیت په پام کې نیولو سره، دفتر به له اړتیا سره سم هغه وړ کسان وپېژني چې ښایي د ځېړنو د ملاتړ لپاره د منځګړو په حیث وټاکل شي. که چېرته ځایي منځګړي د لاسرسي وړ نه وي یا ونه پېژندل شي، دفتر به د مرستې لپاره د اړوند مجربه سیمه ییزو یا نړیوالو مدني ټولنو ته مخه کړي[84].

77. له قربانیانو یا شاهدانو سره د مرکو پر مهال به د مرکو ټیم دوی ته د دوی د خوښې په جنسیتي نومځړو سره خطاب کوي او د جنسیت او کلتورپربنسټ ژبه به کاروي. دا ټیم به د ژباړونکو او مرکه کوونکو د پروفایل اړوند فکتورونه ارزوي چې د هر ډول کلیشو مخنیوی وکړي. د مرکې ټیم او ژباړونکي به د (LGBTQI+) کسانو په توګه پېژندل شوو په شمول، له قربانیانو یا شاهدانو سره د ښکېلتیا پر مهال د مرکې د پروسې لپاره ځانګړی چمتووالی نیسي. په دې کې ښایي له مؤدبو کلماتو او نورو شفاهي، غیرشفاهي یا د عمر-مختص مفاهمو سره بلدتیا شامله وي چې د مرکه کوونکو له خوا کارول کېږي چې د پلټنې په یو ځانګړي چوکاټ کې دننه د جنسیتي تبعیض کړنو ته رجوع وکړي. همدا ډول دوی به پوهاوی او وییپانګې ترلاسه کړي چې له مناسبو او کره اصطلاحاتو سره بلدتیا پیدا کړي چې د جنسیتي تبعیض، تاوتریخوالي او زیانونو کړنې تشریح کړي. د مرکې ټیم به د ژباړونکو او مرکه کوونکو د جنسیت او د پروفایل د نورو لاملونو اړوند د شاهدانو ترجیح ارزوي چې د هر ډول کلیشو مخنیوی وکړي.

### ب. عملي کول

78. د بنسټنامې د ۶۸مې مادې د ۱ له غوښتنې سره سم، دفتر مختلف ګامونه اخلي چې د قربانیانو او شاهدانو، په ځانګړې توګه د جنسي او جنسیت پر بنسټ جرمونو اړوند، خوندیتوب، بدني او رواني هوساینه، محرمیت او عزت خوندي کړي. له همدې امله به دفتر د خوندیتوب هغه احکام، چې د جنسي او جنسیت پر بنسټ جرمونو او ماشومانو پالیسیو کې وضع شوي، او د قربانیانو د ګډون اړوند حکمونه، چې د قربانیانو د ګډون پالیسی[85] کې یاد شوي، د جنسیتي تعذیب له قربانیانو او شاهدانو سره د ښکېلتیا پر مهال، عملي کوي. په ځانګړې توګه، دفتر به ټول هغه ځانګړي ګواښونه، زیانونه، د خوندیتوب یا ملاتړ موضوع ګاڼي چې د جنسیتي تعذیب قربانیان یا شاهدان، په ځانګړې توګه ښځې، ماشومان او (LGBTQI+) اشخاص اغېزمنوي، په پام کې نیسي.

### ج. سپړل

79. له شخړې وړاندې د بشري حقونو د ټولنیز وضعیت تحلیلول ښایي د بنسټي حقونو د محرومیت لپاره په یو معلوم وخت کې د یوفکتور په توګه ګټور وي. مرتکبین ښایي له مخکې موجودو تبعیضي جنسیتي اصولو باندې تکیه وکړي یا یې نور هم چټک کړي چې جنسیتي تعذیب ته لاره هواره کړي او دا د جنسیتي تعذیب د ثبوت په توګه کارول کیدلی شي. له مخکې موجود جنسیتي تبعیض د مرتکب د جنسیتي ځوروونکي کړنې لپاره بهانه کیدلی نه شي. د دې ترڅنګ، دا چې دا کړنې په ملي قوانینو کې قانوني دي او که نه، مهمه نه ده[86]. د تعذیب د نورو ډولونو په څېر، هیڅ کومه اړتیا نشته چې د مرتکب کړنه دې د جنسیتي تبعیض له مخکې موجودو کچو سره برابره یا دې ترې تېرې وکړي چې د جنسیتي تعذیب په توګه وپېژندل شي.

[84] د بېلګې په توګه، د ښځو چارو لپاره د ملګرو ملتونو دفتر-JRR د جنسي او جنسیت پر بنسټ تاوتریخوالي فهرست نړیوالې ټولنې ته د شخړې او نورو شرایطو اړوند تخصص وړاندې کوي.

[85] د قربانیانو د ګډون پالیسي.

[86] د بنسټنامې ۲۱ ماده، په استثناء د هغه حالت چې د بنسټنامې ۳۲(۲) ماده په کې پلې کېږي.

80. دفتر به د بنسټي حقونو له نظره معلومات راټولوي او جنايي خوځښتونه به سپړي چې داده شي دا چې ايا منع شوي کړني يا جرمونه د جنسيتي تعبيض د پلي کولو لپاره د وسيلې په توګه کارول شوي دي که نه. دا سپړنه به د تعذيب د يو روښانه خوځښت په راسپړلو کې مرسته وکړي. د بېلګې په توګه، مرتکبين ښايي د نجونو د ښوونځيو يا نورو ښوونيزو مرکزونو په بمبارولو سره نجونې له زده کړو منع کړي؛[87] د مېندو لپاره د واټونو لرونکو روغتونونو د بمبارولو له لارې، ښځو او نجونو ته له زېږون او نورو معالجوي پاملرنو څخه منع وکړي او/يا اراده ولري چې سړي د خپلو کورنيو د ښځو او نجونو د اړتياوو له پوره کولو څخه په منع کولو سره سپک کړي[88]؛ د (LGBTQI+) کلتوري مرکزونو په سوزولو سره هوموفوبيک يا يوجنسيتي ارزښتونه نافذ کړي؛ يا هغه اداري په نښه کړي چې زيانمنو شوو ډلو ته مرستې يا خدمتونه وړاندې کوي.

81. دفتر به د جنسيتي تعذيب پر کړنو يو بله اړونده سپړنه ترسره کړي، تر څو دا واضع شی چې دا ډول کړنې يا جرمونه ښايي په ۷(ح) ماده کې د متقاطع يا (انترسکشنال)او اړوندو تعذيبی دليلونهو څخه هم انګېزهاخلي[89].

## VIII. عدلی او قضايي

82. له لومړنيو پلټنو، او د لومړنيو او مفصلوڅېړنو او شواهدو راټولوني او ارزوني څخه په کتنې، دفتر به داډ ورکوي چې د جنسيتي تعذيب تورونه به هغه وخت لګول کېږي چې کله کافي شواهد موجود وي. دفتر به هڅه کوي چې هغه کسان وپلټي او تر عدلي تعقيب لاندې يې ونيسي چې د هغې جنسيتي تعذيب مسؤل وي چې د محکمې تر قضايي صلاحيت لاندې راځي.

*الف. د تورونو ټاکنه*

83. د بنسټنامې په ۷مې مادې ۱ بند کې د ذکر شوو کړنو يا د محکمې په قضايي صلاحيت کې دننه د هر جرم په تړاو د جنسيتي تعذيب لپاره د محکمې قضايي صلاحيت تفويض کوي. دفتر به له مقرراتي چوکاټ څخه بشپړه ګټه اخلي چې جنسيتي تعذيب وپلټي او تر عدلي تعقيب لاندې يې ونيسي. همدا ډول دفتر د دې ډول جرمونو د حساب ورکونې پياوړتيا ته ژمن دی، او د دې جرمونو په مخنيوي او په دې تړاو د قوانينو پراختيا کې خپله ونډه اخلي.

84. د دې لپاره چې د جنسيتي تعذيب په کړنو کې د جنسيتي ځورونکو د زيانونو ګڼ مخيزه ځانګړتياوې راونغاړل شي، دفتر به هڅه کوي چې د نورو جنسي او جنسيت پر بنسټ جرمونهو لپاره جمعي تورونه رامخ ته کړي يا د جنسي او جنسيت پر بنسټ جرمونهو موضوعي عدلي تعقيب ترسره کړي، لکه څنګه چې په هره قضيه کې د شواهدو له خوا يې ملاتړ کېږي[90]. همدا ډول دفتر به هڅه کوي چې د ماشومانو قربانيانو په وړاندې د ترسره شوې جنسيتي ځورونې لپاره جلا تورونه ثبت کړي[91].

---

[87] له بريدونو څخه د تعليم د خوندي کولو نړيوال ائتلاف وګورئ، «پر زده کړو د چاوديدونکو وسلو اغېز: د افغانستان د قضيې څېړنه» (سپټمبر ۲۰۲۱) همدا ډول د ماشومانو پالیسي، پاراګراف ۸۷ وګورئ.

[88] د سوريې عربي جمهوريت په اړه د پلټنو د خپلواک نړيوال کمېسيون راپور، A/HRC/25/65، (۱۲ فبروري ۲۰۱۴)، ۷.۲ ضميمه، وګورئ

[89] پورته ۴۱ لمنليک وګورئ.

[90] د جنسي او جنسيت پر بنسټ جرمونهو پالیسي، پاراګراف ۷۲ وګورئ. همدا ډول دفتر به د جمعي تورونو راوړاندې کول په پام کې نيسي چې د کلتوري ميراث په ضد يا اغېزمنوونکو جرمونهو شدت، ګڼ مخيزه ماهيت او پراخ اغېز منعکس کړي. د کلتوري ميراث پالیسي، پاراګراف ۱۰۹.

[91] د ماشومانو پالیسي. پاراګراف ۵۱.

*ب. د مسؤلیت تجیه کولو حالتونه*

85. د دې لپاره چې د سناریوګانو په ډولونو کې د حساب ورکونې ډاډ ورکړي، دفتر به د مسؤلیت د طریقو بشپړه ساحه او د جنسیتي تعذیب د اتهام لپاره د بنسټنامې په ۲۵، ۲۸ او ۳۰ مادو کې اروايي عنصرونه په پام کې نیسي، او د شته شواهدو پر بنسټ به پرېکړه کوي.

86. د بنسټنامې په ۲۵ ماده کې، د نظامي قوماندانانو یا غیرنظامي لوړپوړو چارواکو په ګډون کسان ښايي د جنسیتي تعذیب مسؤل وګڼل شي چې دوی یې د افرادو په حیث یا له نورو کسانو سره په ګډه او/یا د هغوی له لارې ترسره کوي، یا دا چې دوی د دې جرمونو د کړنې یا یې د کړنې د هڅې لپاره امر، غوښتنه، هڅونه، مرسته، ګډون، یا په هر بل ډول ملاتړ کړی وي یا یې په کومه طریقه په کې ونډه اخیستې وي. د نظامي قوماندانانو یا غیرنظامي لوړپوړو په موردونو کې، دوی د بنسټنامې د ۲۸ مادې اړوند د قوماندې یا لوړپوړي مسؤلیت پر بنسټ مسؤل ګڼل کیدلی شي.

87. جنسیتي تعذیب ښايي د دې جرمونهو ترسره کولو لپاره د جوتو یا ضمني حکمونو یا لارښوونو په پایله کې هم ترسره کړل شي. د بېلګې په توګه، مرتکب ښايي پوه اوسي چې جنسیتي تعذیب به – د پېښو په عادي لړۍ کې – د هغو نظامي عملیاتو په پایله کې ترسره شي چې د ملکي وګړو په وړاندې ترسره کېږي. همدا ډول ښايي جنسیتي تعذیب د یوې تېروتنې له امله ترسره شي (لکه د ملکي وګړو د خوندیتوب لپاره مامورینو ته په امر کولو کې پاتې راتلل، یا د تبعیضي انګېزو پر بنسټ په پخوانیو عملیاتو کې د ورته ترسره شوو جرمونهو لپاره په سزا ورکولو کې پاتې راتلل). همدا ډول دا جرمونه ښايي د یوې ادارې په ټولو کچو کې د نورو اړوندو تبعیضي لاملونهو د یو ترکیب له امله رامنځ ته شي.

*ج. شواهد*

88. جنسیتي تعذیب ښايي د هغو تعذیبی کړنو له لارې ثابته شي چې په منحصره یا په غیرمتناسبه توګه د یوې په نښه شوې ډلې یا ټولګې، یا د یادې ډلې د غړو په ضد ترسره شوې وي. په نورو برخو کې ښايي جنسیتي تعذیب د یوې ډلې یا ټولګې د غړو په نښه کولو سره ثابته شي چې هلته د دې ډول نا انډوالي هیڅ نښې موجودې نه وي. (۵۰-۵۱ پاراګرافونه ولولئ).

89. ډلې ښايي د جګړې په کړنلاره کې د رېښه لرونکو مستقیمو امرونو[92]، یا د همغږو او میتودولوژیکې هلوځلو له لارې په نښه شي[93]. د بېلګې په توګه، مرتکبین ښايي منع شوې کړنې د نورو تبعیضي مقرراتو یا عقایدو د هڅو په توګه ترسره کړي چې په جنايي کړنو کې د تعذیب خوځښتونو نمونې وړاندې کوي. (په ۸۰ او ۹۱ پاراګرافونو کې بېلګې وګورئ).

90. د جزا د نړیوالې محکمې او نورو محکمو تجربې ښیي چې ډېری وختونه د جنسي یا جنسیت پر بنسټ جرمونو ترسره کولو لپاره د مستقیمو امرونو شواهد نه وي[94]. په دې شرایطو کې، د مخکینیو یا وروستیو کړنو د ارقامو یا ځانګړو خبرتیاوو په څېر شواهد، او همدا ډول موجودې اداري تکلاره، او د په نښه شوې ډلې د غړو یا جنسیتي موضوع ګانو په وړاندې د ډلې عمومي تکلاره ښايي مرسته وکړي چې د مرتکب لپاره د پوهاوي ثبوت وکرځي چې دا ډول جرمونه د عادي پېښو په لړ کې منځ ته راځي، چې د بنسټنامې د ۳۰(۲)(ب) مادې دهنی عنصرونه پوره کولی شي او ښايي، د مسؤلیت واردو شوو طریقو ته په کتلو سره، کافي اوسي. دفتر به د جنسیتي تعذیب د تحلیل پر مهال د دې حکم بشپړ احتمال څېړي او د شخړې ستراتیژیکې تکلارې به په پام کې نیسي چې د جنسي او جنسیت پر بنسټ جرمونو د وړاندوینې وړتیا را منځ ته کړي.

---

92 د انتاګاندا د محاکمې پرېکړه، پاراګراف ۲۹۳ او ۷۹۹.

93 د اونګوین د محاکمې پرېکړه، پاراګراف ۲۱۲، ۲۲۲، ۲۰۹۸-۲۰۹۹ او ۲۳۱۲-۲۳۱۳.

94 د جنسي او جنسیت پر بنسټ جرمونهو پالیسي، پاراګرف ۸۱.

91. د په نښه شوو ډلو يا ټولګو پر غړو باندې د مرتکبينو له خوا وضع شوي جنسيتي معيارونه چې د بنسټي حقونو د شديدو محروميتونو لامل ګرځي ښايي له دې لارې تنظيم شي چې دوی ځنګه چلند وکړي، ځنګه جامې واغوندي، چېرته کار وکړي، چېرته واوسېږي، د څه د مصرفونو اجازه ولري، ځنګه خپلې کورنی تعريف کړي، يا دا چې په ساده توګه دوی د ژوندي پاتې کيدلو اجازه ولري که نه. (۲۴ پاراګراف وګورئ). همدا ډول دوی ښايي هغه تبعيضي جنسيتي، نژادي او قبيلوي جوړښتونه او معيارونه راخپل کړي چې د استعمار او غلامی بڼه ورکړل شوی وي. له همدې امله ښايي جنسيتي تعذيب هغه وخت ثابته شي چې کله:

i. کړني يا جرمونه د مرتکب له خوا د وضع شوو جنسيتي معيارونو نه د انحراف له امله د سزا په توګه ترسره شي. د بېلګې په توګه، ښځې يا نجونې چې په بازار کې د لاسپوښونو د نه اغوستلو له امله د جامو له مقرراتو څخه سرغړونه کوي، له بدني سزا سره مخ کيدلی شي[95]. هغه سړي او هلکان چې د مرتکبينو له نظره د خپل نارينتوب د باورونو خلاف «نامطلوب چلند يا جامې کوي» ښايي د تعذيب يا قتل سزا ورکړل شي[96].

ii. کړنه يا جرم پخپله هغه معيارونه څرګندوي چې مرتکب يې پر کسانو وضع کوي. د بېلګې په توګه، يو مرتکب ښايي باور ولري چې د يو ځانګړي نژاد د ښځو او نجونو دنده دا ده چې وينځې اوسي[97]. سړي او هلکان يې ښايي جګړې کولو ته اړ شي[98]. ښځې او نجونې يې په غلامی مجبوري شي چې کورنی کارونه ترسره کړي لکه پخلی، د جامو مينځل يا په ناروغانو پام کول، چې دا دندې دوی ته د ښځو او نجونو د جنسيتي رولونو پر بنسټ ورسپارل شوی وي[99].

iii. کړني يا جرمونه د مرتکب د هلوځلو شاهدي ورکوي چې د جنسيتي مقرراتو د نافذولو وړتيا څرګنده کړي. د بېلګې په توګه، مرتکب ښايي په هغه څه کې ښکېل شي چې دوی ورته «اصلاحي جنسی تيری» او «ټولنيز پاکوالی» وايي، لکه د هغو خلکو سره جنسی تيری کول يا وژل چې «نامطلوب» ګڼل کيږي لکه ښځينه جنسي کارکوونکي[100] او (LGBTQI+) اشخاص[101].

iv. کړني يا جرمونه د تعذيب له نورو عواملو سره مل وي چې په بنسټنامه کې منع شوي دي، او د شته ټولنيز جوړښتونو او معيارونو ښکارندوی دي چې د مرتکب له خوا د قبيلې او نژاد، او داسې نورو پر بنسټ د ډلو په نښه کولو لپاره کارول کېږي. د بېلګې په توګه، ښايي د تعذيب لپاره ګڼ دليلونه موجود وي چې تاوتريخوالی او نور زيانونه ملاتړ کوي چې د افريقايي-نسبه او بومي ښځو په وړاندې ترسره کېږي[102].

---

[95] د الحسن په وړاندی قضيه کې د تورونو د استماع د تائيدی په پرانسته کې، د جزا د نړيوالې محکمې د څارنوال، فاتو بنسودا، بيانيه ، ۸ جولای ۲۰۱۹، وګورئ.

[96] د ښځو چارو لپاره د ملګرو ملتونو اداره، د کولمبيا د سولې پروسه کې د جنسيت او د ښځو نقش (۲۰۱۶)، ۱۰ مخ وګورئ. ( OHCHR او UNAMI )، په عراق کې په وسلواله شخړه کې د ملکي وګړو د خونديتوب راپور: ۱ می – ۳۱ اکتوبر ۲۰۱۵، (۱۹ جنوري ۲۰۱۶)، مخ ۱۹، وګورئ.

[97] په عراق کې د داعش او اړوندو ډلو د ترسره کړو جرمونهو په رڼا کې د بشر حقونو د وضعيت په اړه د (OHCHR) راپور، A/HRC/28/18 (۲۷ مارچ ۲۰۱۵)، پاراګراف ۳۵، وګورئ. دا بېلګه ښايي جنسيتي او نژادي دواړه تعذيب روښانه کړي.

[98] د الرحمان د تائيدی پرېکړه، ICC-02/05-01/20-433; او د سيد د تائيدی پرېکړه ICC-01/14-01/21-218. په نايجيريا کې د وضعيت د لومړني تحليل د پايلې په اړه د څارنوال، فاتو بنسودا بيانيه، ۱۱ ډسمبر ۲۰۲۰، وګورئ.

[99] ( Colombia Diversa, ¿Quién nos va a contar?، سپتمبر ۲۰۲۰) ، مخ ۶۵، ۸۶-۸۸ وګورئ، (راپور ورکوي چې ترانسجندر ښځې د کورنيو کارونو په کولو مجبورې شوې وې).

[100] د بشر حقونو بين الامريکايي کمېسيون، په کولمبيا کې په وسلواله شخړه کې د ښځو په وړاندې تاوتريخوالی او تبعيض، OEA/Ser.L/V/II (۱۸ اکتوبر ۲۰۰۶) پاراګراف ۹۷ وګورئ.

[101] د ښځو چارو لپاره د ملګرو ملتونو اداره، د کولمبيا د سولې پروسه کې د جنسيت او د ښځو نقش (۲۰۱۶)، ۱۴ مخ وګورئ.

[102] Comisión para el Esclarecimiento de la Verdad, la Convivencia y la No Repetición, *Hay futuro si hay verdad, informe final* (جولای ۲۰۲۲)، مخ ۷۳-۹۸؛ ليزا ډيويس، له قوانينو څخه دوري ياکول: په ښځږو او مظالمو کې د جنسيتي تعذيب په رسميت پيژندل، ۲۰، Nw. J. Hum. Rts. 1 (۲۰۲۱)، مخ ۴۲-۵۱.

92. جنسيتي تعذيب ښايي د جنسيت او کلتور پر بنسټ خلک په نښه کړي. د بېلګې په توګه، کيدای شي د شريک کلتوري ميراث يا د يوې ډلې، لکه مذهبي يا روحاني رهبرانو، کلتوري ميراث ته د شخصي ارزښت له امله، خلک د غلامۍ لپاره په نښه کړل شي يا د اجباري حمل اخيستلو قرباني شي[103]. د تګ راتګ پر ازادۍ يا د عبادت پر ازادۍ باندې محدوديتونه هم قربانيان له دې حق څخه محرومولی چې خپل کلتوري ميراث ته د عبادت لپاره لاسرسی ولري. دفتر به د کلتوري ميراث سپړنه کوي چې ښيي د کلتوري ميراث ځيني مشخص ډولونه يا اړخونه په ځانګړې توګه له دې امله په نښه کېدلی شي چې د جنسيت پر بنسټ په نښه شوو ډلو ته ځانګړی ارزښت لري[104]. د حقايقو له خوا ملاتړ کيدلو وروسته به دفتر د تور په سندونو کې د جنسيتي تعذيب د جرم او کلتوري ميراث ترمنځ اړيکي په ډاګه کوي[105].

93. دفتر تصديقوي چې جنسيتي تعذيب کې ماشومان هم د جنسيت پر بنسټ په نښه کيدلی شي[106]. د ماشومانو په وړاندې ترسره شوو جنسيتي تعذيب کې، د بېلګې په توګه، اجباري واده[107]، جنسي غلامي او کورنۍ خدمت شامليدلی شي[108]، هلکان کيدای شي يو بل سره جنګيدلو ته اړ شي[109].

94. دفتر به هڅه کوي چې د مختلفو سرچينو له لارې د تورن د تبعيضي ارادې او پوهې د ثبوت لپاره شواهد وړاندې کړي[110]. د جنسيتي معيارونو د بيانولو تګلاره، پلانونه، قواعد، مقررات او نور وسايل ښايي د شفاهي اعلاميو يا ليکلو موادو په بېلابېلو بڼو کې وي لکه تعليمات، هنر او ادبيات، بصري او سمعي رسنۍ، ښوونيز او مذهبي مواد، امرونه، فرمانونه، بروشورونه، مجلې، ليف ليټونه، پوسټرونه، راډيويي يا تلويزوني خپروني، هنري کارونه، ګرافيتيو انټرنيټي څروني لکه ټولنيزې رسنۍ يا بلاګ پوسټونه، حکمونه، ويناوې، ورځنۍ ژبه او تقريرونه. په دې کې ښايي د يوشکمن فرد د مخکينۍ کړنې هم شاملې وي چې د جرم د شکمنو ډلو يا د جرم د چاراوکو په غبرګون کې د اړوندې ارادې او منفي جنسيتي اړخ نيونې ښکارندويي کوي. همدا ډول دفتر ښايي هغه مستند شواهد هم بررسي کړي چې د مدني ټولنو، پوهنتونونو، د ملګرو ملتونو د کارپوهانو، د پلټنو د کمېسونونو په راپورونو او د رسنيو په پوښښ کې ځای پر ځای شوي وي.

95. د تبعيضي ارادې په شواهدو کې د مستقيمو مرتکبينو کړنې يا بيانيې، قوانين، تګلارې يا مقررات چې د مرتکبې ډلې يا نورو چاراوکو له خوا خپاره شوي وي، د کرکجنې وينا کارول، د په نښه شوې ډلې د غړو په ضد تعبيضي يا پېغورېزه ژبه، يا د بنسټي جرمونو يا څورونکو کړنو په تړاو عامې اعلاميې ، شامليدلی شي. همدا ډول دا د په نښه کولو له حرکتونو څخه هم جوتېدای شي، لکه هغه جرمونه چې په زياته توګه د مشخصو کسانو يا ډلو په وړاندې ترسره کېږي او/يا نه د نورو په وړاندې، يا د مشخصو جنسيتي خصوصياتو پر بنسټ د افرادو بېلول. اراده او پوهه هم له مخکينۍ يا راتلونکې کړنې څخه جوتېدای شي.

---

[103] د کلتوري ميراث پاليسي، پارګراف ۶۰ (۳)
[104] د کلتوري ميراث پاليسي، پارګراف ۲۹
[105] د کلتوري ميراث پاليسي، پارګراف ۶۰ (۳)
[106] د کلتوري ميراث پاليسي، پارګراف ۵۱ او ۸۶
[107] (ECCC) قضيه ګڼه. ۰۲/۰۰۲، 002/19-09-2007-ECCC/SC, په قضيه ۰۲/۰۰۲ کې د استيناف پرېکړې لنډيز، پاراګراف ۵۸. (ECCC) تائيدوي چې د اجباري جنسي اړيکو او اجباري واده قربانيانو کې ښځينه او نارينه قربانيان موجود دي. پاراګراف ۵۸ او ۶۳. ورته څورونکې کړنه د بېلابېلو تبعيضي ارادو لپاره د ګڼو په نښه شوو ډلو په ضد ترسره کيدلی شي. ۵۰-۵۱ پاراګرافونه ولولئ.
[108] د اونګوين محاکمې پرېکړه، پاراګراف ۲۱۶، ۲۱۷ او ۲۲۰؛ همدا ډول پورته ۵۰-۵۱ پاراګرافونه *ولولئ*.
[109] د ښځو چارو لپاره د ملګرو ملتونو دفتر، *په کولمبيا کې د سولې پروسه کې د جنسيت او د ښځو نقش* (۲۰۱۶) (د يوې پېښې خبر ورکوي چې ۱۶ همجنسبازان هلکان په کې مجبور شوي ول چې يو له بل سره د بوکسينګ په حلقه کې جنګ وکړي)، مخ ۹.
[110] *څارنوال د ټيلر په وړاندې*، SCSL-03-01-T, ، د محاکمې پرېکړه، پاراګراف ۶۸۱۵-۶۸۷۶ او ۶۸۸۰.

96. سره له دې چې عقايد يا انګېزې د جنسيتي تعذيب  د انفرادي جرمي مسؤليت ثابتولو لپاره شرط نه دي، خو دا تبعيضي اراده راښکاره کولی شي، په ځانګړې توګه کله چې د مستقيمو مرتکبينو له خوا د جرمونو له ترسره کولو مخکې، وروسته يا د جرم په دوران کې څرګندې شوې وي. ځيني وختونه دا ډول عقايد دومره قبول شوي او عادي شوي وي چې مرتکبين يې ښايي جرم ونه ګڼي يا ورته د اړخ نيوني د يو ډول په سترګه ونه ګوري. په دې حالتونو کې، د قربانيانو جنسيت؛ د په نښه کولو جنسيت-ځانګړو حرکتونه يا دې ته کتل چې آيا جرم په ماهيت کې جنسي و که نه، د تبعيض موجوديت په ښه توګه تشيخصولو کې مرسته کولی شي، چې د ارادې د شواهدو په توګه کارول کيدلی شي[111]. (۵۲-۵۴ پاراګرافونه وګورئ).

97. دفتر به له کارپوهانو سره مشوری کوي، او که مناسبه وي د جنسيتي تعذيب  د مختلفو اړخونو په اړه به د دوی د شاهدۍ غوښتنې کوي لکه پر اغېزمنو شوو ټولنو باندې د دې ټولنيز-سياسي، اقتصادي يا چاپېريالي اغېز. دا کارپوهان ښايي د جنسيتي تعذيب  د کړنو د حرکتونو په تشخيصولو کې هم ګټور ثابت شي، چې ځوروونکې کړنې او له نورو جرمونو او د بنسټي حقونو له محروميتونو سره د دوی تړاو، او همدا ډول د تعذيب  له نورو دليلونو سره د دې کړنو تړاو، په کې شامل دي. له همدې امله به دفتر له نړيوالو يا محلي ادارو، د ملګرو ملتونو د کارپوهانو يا بنسټونو، پوهانو يا نورو کارپوهانو سره احتمالي شراکتونه څېړي چې کولی شي د جنسيتي تعذيب  د اندېښنو په اړه شاهدي ورکړي يا ليکلي بيانيې وړاندې کړي.

*د. حکم کول*

98. د مناسب حکم د سپارښتنې تشخيصولو پر مهال به دفتر ځيني لاملونه په پام کې نيسي لکه د جنسيتي تعذيب شدت، د جنسيت پر بنسټ د په نښه شوو ډلو پر قربانيانو باندې د جرم اغېز (لکه د ښځو، (+LGBTQI کسانو، نجونو او هلکانو زيانمننو ته ځانګړې پاملرنه کول)، هر ډول فرانسلي زيان او د محکوم شوو کسانو انفرادي شرايط[112]. دفتر به داسې مؤقف نيسي چې د جنسيتي تعذيب  جرمونو ته د حکم په موخه د خاصو شديدو جرمونو په سترګه وکتل شي، او په پام کې نيسي چې د شخصي تبعيضي انګېزې شواهد د حکم لپاره تشديدوونکی عامل ګڼل کيدلی شي[113].

*ه. اعتراضونه*

99. دفتر به د اعتراضونو او ستراتيژيکو شحړو اړوند په خپلو پرېکړو کې د قربانيانو، د دوی د کورنيو، د دوی د ټولنو، نړيوالې ټولنې او په ټوله کې د بشريت په ضد يا د دوی د اغېزمنوونکې جنسيتي تعذيب  د ترسره شوو جرمونو ځانګړی شدت په پام کې نيسي.

## IX. جبران

100. دفتر به د جنسيتي تعذيب  له امله اغېزمنو شوو قربانيانو ته د اوښتي زيان، کړاوونو او اغېز په پام کې نيولو سره، د جبران لپاره د جنسيت-حساسي تګلارې ملاتړ کوي، چې په تړاو يې ياد فرد محکوم شوی دی. همدا ډول دفتر به په ټولنو کې د ادغام لپاره د قربانيانو حقونه هم په پام کې نيسي.

---

111 د اونګوين د محاکمې پرېکړه، پاراګراف ۲۱۲ او ۲۰۸۲.

112 د بنسټنامې ۷۸(۱) ماده. د کړنلارې او شواهدو اصول، اصل ۱۴۵(۱) او (۲) هم ګڼ لاملونه ذکر کوي چې د حکم په تشخيصولو کې په پام کې نيول کيدلی شي، چې په کې تشديدوونکې او خفيف کوونکې شرايط شامل دي.

113 د کړنلارې او شواهدو اصول، اصل ۱۴۵(۲)(ب)(۵). د اصولو په ۱۴۵(۲)(ب) اصل کې وضع شوو تشديدوونکو شرايطو کې «په ۲۱ ماده، ۳ فقره کې يادو شوو ټولو دليلونهو پر بنسټ د تبعيض د هرې انګېزې لپاره د جرمونهو ترسره کول» شامل دي، چې جنسيت هم په کې راځي.

101. پر دې سربېره، دفتر به له قربانیانو سره د مشورو ملاتړ کوي چې د يو مناسب نهاد له خوا جنسيتي تحلیل هم په کې شامل دی چې په يوه مشخصه ټولنه کې د جبران تر ټولو اغېزناک او مناسب ډولونه تشخیص کړي. د دې تګلارې موخه د هغو جبرانونو وده ورکول دي چې بدلون راوړونکي دي او د غیرتبعیض او جنسيتي برابرۍ په لوړولو کې مرسته کوي.

102. دفتر به د هر ډول ګمارنو په چوکاټ کې په پام کې نيسي چې انفرادي جبرانونه د غیرپولي جبران (لکه ښښنه کولای شي چې د قرباني حس د عدالت لپاره پياوړی کړي[114]. په ورته وخت کې، جمعي جبرانونه، لکه د د کلتوري يا ټولنيزو مرکزونو او د دفترونو يا د غونډو ځايونو، ارشيفونو، ادبي يا هنري اثرونو چې په ښځو، نجونو يا (+LGBTQI) ټولنو پورې اړه لري، ښوونځيو يا روغتيايي مرکزونو بيا رغوونه، ښايي د ټولنې پخلاينه ته وده ورکړي او د قربانيانو ډلو ته ډېره ګټه ورسوي[115].

## X. همکاري او بهرنۍ اړيکې

103. اغېزناکه همکاري د دفتر د وړتيا لپاره مهمه ده چې اغېزناکي پلټنې او څېړنې ترسره کړي. له همدې امله به دفتر هلې ځلې کوي چې د خپلو فعاليتونو لپاره همکاري او ملاتړ زيات کړي، په ځانګړې توګه د جنسيتي تعذيب د په ګوته کولو او مخنيوي، او د نړيوال جزايي عدالت په تړاو د جنسيت-حساسي تګلارې عامولو لپاره.

104. دفتر به په فعاله توګه له دولتونو، نړيوالو ادارو او نورو اړوندو سهم لرونکو سره ښکېلېږي چې د خپلو فعاليتونو لپاره په مرستو ډاډمن اوسي . د خپلو کارونو لپاره ديپلوماتيک او سياسي ملاتړ زيات کړي، او د جنسيتي تعذيب په تړاو د خپلو کړنو اغېزه لوړه کړي. خو له بهرنيو همکارانو سره اړيکو په پرتله د دفتر کارونه ډېر پياوړي او بدايه کړي، دفتر به خپله همکاري د ملګرو ملتونو له کارپوهانو سره، چې ځانګړي استازي، خپلواک کارپوهان او ځانګړي راپور ورکوونکي[116]، د ملګرو ملتونو فعالان، مدني ټولنې او پوهان په کې شامل دي، پياوړې کوي او د دوی له تخصص څخه به ګټې اخيستلو ته دوام ورکوي.

105. دفتر د جنسي او جنسيت پر بنسټ جرمونو د مستند کولو او حساب ورکولو په پراخو هڅو کې د جنسيتي تعذيب د جرمونو اړوند معلوماتو او پوهاوي کموالی درک کوي. د مدني ټولنې د نقش د لا پياوړي کولو لپاره د دفتر د نوو نوښتونو سره سم[117] به هڅه کوي چې له هغو ادارو سره همکاري پياوړې کړي او ملاتړ يې وکړي چې د دې جرمونو په مستندولو او له قربانيانو سره په کارکولو کې تجربه لري. دفتر به د يوې شبکې د جوړولو لپاره فعاله کار کولو ته دوام ورکوي او ښايي د جنسيتي تعذيب له ځانګړي سلاکار څخه مشورې وغواړي چې څنګه له دولتونو، مدني ټولنو او علمي بنسټونو سره ښکېل شي چې د جنسيتي تعذيب او د دې جرمونو د قربانيانو د په نښه کولو کې د دوی مرسته او ملاتړ راخپل کړي.

---

[114] د *لوبانګي دايلو* د جبران کړنلارې، ICC-01/04-01/06-2867, پاراګراف ۹-۱۳ *وګورئ.*

[115] د *لوبانګي دايلو* د جبران کړنلارې، ICC-01/04-01/06-2867, پاراګراف ۱۴-۱۵ *وګورئ.*

[116] د ملګرو ملتونو کارپوهانو کې چې د جنسيتي تعذيب په اړه يې تبصرې کړې دي يا د جنسيتي تعذيب د حساب ورکولو اړوند ماموريت لري، دا متخصصين شامل دي، لکه په شخړو کې د جنسي تاوتريخوالي په اړه د عمومي منشي د ځانګړي استازي دفتر؛ او د ماشومانو او وسلوالې شخړې لپاره؛ د جنسي تمايل او جنسيتي هويت پر بنسټ د تاوتريخوالي او تبعيض په وړاندې خونديتوب لپاره خپلواک متخصص؛ او د صحرايي، ماوراء عدالتي يا استبدادي وژنو؛ د ښځو او نجونو په وړاندې د تاوتريخوالي، د هغه د لاملونو او پايلو؛ د روغتيا د حق؛ تعذيب او نور جابرانه، ناانساني يا بې عزته کوونکي چلند يا شکنجې؛ د حقيقت، عدالت، جبران او د بيا نه پېښيدلو د ضمانت د لوړاوی؛ د کلتوري حقونو په برخه کې د ملګرو ملتونو ځانګړي راپور ورکوونکي؛ او د ښځو او نجونو په وړاندې د تبعيض په اړه د ملګرو ملتونو کاري ډله.

[117] د جزا د نړيوالې محکمې څارنوال کريم. ا.ا. خان له مدني ټولنې سره د ښکېلتيا د پياوړي کولو لپاره نوي ابتکارات اعلان کړل. ۱۳ مى ۲۰۲۲.

106. له خپلو فعالیتونو ور هاخوا، او له نورو سهم لرونکو سره په ګډه به دفتر هڅه کوي چې د ماموریتونو، عامه اعلامیو، او په کنفرانسونو او روزنیزو پروګرامونو کې د ګډون له لارې، او همدا ډول په عمومي توګه، د معلوماتو او تجربو شریکولو لپاره د پلټونکو او تعقیبوونکو بنسټونو ترمنځ د یوې نړیوالې شبکې په لا پراختیا کې د ونډې اخیستلو له لارې، د جنسیتي تعذیب اړوند حساب ورکولو کې مرسته وکړي او اړتیا یې روښانه کړي. دفتر به په فعاله توګه له دولتونو، مدني ټولنو او نورو کلیدي سهم لرونکو سره ښکېلېږي چې د جنسیتي تعذیب د مخنیوي او ځوابولو د اغېزو لوړاوي ته دوام ورکړي. دفتر درک کوي چې د جنسیتي تعذیب د بریالي عدلي او قضایي ریکارډ او د جرم د قانوني عناصرو په اړه قوي قضایي کړنلارې کولای شي د کورنیو او سیمه ییزو هلوځلو لپاره ارزښتناکه عمل ولري.

## XI. سازماني پراختیا

107. دفتر به هڅه کوي چې ډاډ ورکړي چې دومره اړین ظرفیتونه او ملاتړ لري چې د جنسیتي تعذیب په تړاو خپل فعالیتونه په اغېزناکه توګه پرمخ یوسي. د جنسیت او ماشومانو ځانګې (GCU) ته د کافي ملاتړ وړاندې کول او په هر متحد ټیم او نورو ځانګړو واحدونو او څانګو کې دننه د جنسیتي صلاحیتونو د ځای پر ځای کولو لوړاوی د دې د ډاډ ورکولو لارې دي چې د جنسیتي تعذیب پر پلټنې او تعقیب باندې ښه مناسب تمرکز شوی دی.

108. دفتر به د جنسیتي تعذیب د پلټنې او عدلي تعقیب په تړاو خپلې کړنې څارې. دفتر به د جنسیتي تعذیب په تړاو غوره عرفونه په نښه، مستند او چمتو کوي چې په کې د اړتیا پر مهال د حساب ورکولو د کورنیو او سیمه ییزو میکانیزمونو بېلګې هم شاملې دي. دا چاره به له تجربو څخه د ترلاسه شوي بنسټیزې پوهې زده کړه تر هغه حده چې شونې وي وده ورکوي . د قضیو د څوروونکو قراینو په تشخیصولو او کارکولو کې د پوهاوي، پوهې، او غوره عرفونو څرګندول به د ټیم رهبرۍ له لارې روزل کېږي.

109. دفتر د شخړې او ارامۍ په حالتونو کې د جنسیتي تعیب اړوند د داخلي تخصص د پیاوړي کولو اړتیا درک کوي. لکه څنګه چې اړینه وي، دفتر به په دې برخه کې د لازم تخصص او تجربې لرونکو کسانو ګومارلو ته دوام ورکوي، او د اړتیا پر مهال به له بهرني تخصص څخه ګټه اخلي.

110. د بنسټنامې د ۴۲مادې ۹ بند مطابق، څارنوال د جنسي او جنسیت پر بنسټ تاوتریخوالي په شمول، په ځانګړو ساحو کې د حقوقي او نورو برخومشهور مشاورین ګومارلي دي چې د دفتر وړتیا نوره هم لوړه کړي او دفتر ته د پالیسیو، کړنلارو او حقوقي سپارنو په اړه مشورې ورکړي[118]. د ۲۰۲۱ په سپټمبر کې، څارنوال د جنسیتي تعذیب اړوند یو ځانګړی مشاور وګوماره چې د جنسیتي تعذیب په اړه دا پالیسي تسوید کړي او له دفتر سره د وړتیا په پیاوړي کولو کې مرسته وکړي چې په اغېزناکه توګه جنسیتي تعذیب ته ځواب ورکړي او د خپلو کارونو پر ټولو اړخونو باندې یوه جنسیت-پر بنسټ تګلاره پلې کړي[119].

---

[118] د ۲۰۲۱ د سپټمبر پر ۲۱، څارنوال د جنسي او جنسیت پر بنسټ جرمونهو اړوند د ځانګړو مشاورینو دوه نوې ګومارنې ایجاد کړې، چې د جنسیتي جرمونهو اړوند ماموریتونه پراخ کړي او د دې جرمونهو د ځوابولو ارزښت په ډاګه کړي. لېزا ډیویس د جنسیتي تعذیب د ځانګړې مشاورې په توګه وګومارل شوه. همدا ډول څارنوال د غلامۍ د جرمونو اړوند ځانګړې مشاورت هم ایجاد کړ چې پټریشیا ویسیور-سیلرز یې ورته وګومارله. کیم توی سیلینجر په شخړه کې د جنسي تاوتریخوالي اړوند ځانګړی مشاور وګومارل شو. د دې ترڅنګ، ویرونیک اوبرت د ماشومانو اغېزمنوونکو جرمونو په اړه ځانګړی مشاور وګومارل شو. که څه هم ټولو ځانګړو مشاورینو په خپلو کارونو کې جنسیتي تحلیل ته ځای ورکړی دی، خو د دې څلورو په ماموریتونو کې د دفتر لپاره د جنسیتي جرمونو د هر اړخیزې عمومي کتنې وړاندې کول شامل دي.

[119] د ګومارنو په اړه خبري اعلامیه وګورئ: «د جزا د نړیوالې محکمې څارنوال ښاغلي کریم.ا.ا. خان اولس ځانګړي مشاورین وګومارل»، ۱۷ سپټمبر ۲۰۲۱.

111. د جنسيتي تعذيب په اړه د ځانګړي مشاور په لارښووني سره به دفتر د پلټنې د موادو لپاره منظم او د وضعیت-ځانګړي تازه معلومات چمتو کوي چې د جنسيتي تعذيب په ګوته کولو او پلټلو کې مرسته وکړي، لکه (۱) د موضوع پوښتنلیکونه، (۲) د عناصرو لارښودونه، او (۳) د دې پالیسی د پلي کولو لپاره عملي لارښودونه، او هغه مواد چې په ځانګړې توګه د جنسيتي تعذيب هغه جرمونه تر پوښښ لاندې نیسي چې سړي، ښځې (LGTBQI+) اشخاص او د هر عمر لرونکي ماشومان، له زیږیدنې تر ځوانۍ پورې، په نښه کوي چې هغه کسان هم په کې شامل دي چې د تبعیض د ګڼو او یا د تعذيب د نورو دلیلونو له امله زیانمونکي دي. همدا ډول دفتر به موجودو کارکوونکو ته په دې اړه روزنې ورکوي چې څنګه په سمه توګه د تعذيب د حالتونو لپاره د محکمې قضیې وسپړي. دفتر به کارکوونکو ته د جنسيتي تعذيب د شواهدو د راټولولو او میتودولوژیو سپړنه، په محکمه کې د شاهدانو د شاهدۍ وړاندې کولو، د اړوند حقوقي چوکاټ، او د وضعیت او ځانګړو ټولنو اړوند کلتوري او جنسيتي موضوع ګانو په اړه هم روزنه ورکوي، چې پلټنې په کې ترسره کېږي.

### XII. د پالیسی یا تګلارې تطبیق

112. دفتر به خپلې کړنې څارې چې ډاډ ورکړي چې له دې پالیسی سره سم، د جنسيتي تعذيب اغېزناک لومړني تحلیلونه، پلټنې او عدلي تعقیبونه ترسره کوي. دفتر به له خپلو معیاري بنسستیزه زده کړو درسونو څخه ګټه اخلي چې د جنسيتي تعذيب په تړاو تر ټولو غوره عرفونه په ګوته، مستند او تطبیق کړي. دا چاره به زده کړه او له تجربې څخه د ترلاسه شوې بنسستیزه پوهې پیاوړې کړي.

113. دا تګلاره او نور اړوند داخلي قواعد او کړنلارې به په منظمه توګه بیاکتل کېږي چې د قضایې په شمول، تر ټولو غوره عرفونو او نورو اړوندو پراختیاوو ته په کې ځای ورکړل شي.

114. دفتر به د دې تګلارې تطبیق څارې او ارزوي.